

ښاغلی علم گل سحر، شاعر، کیسه لیکونکی، ژباړونکی او پیاوړی لیکوال

# له گران علم گل سحر سره، چې د علم او ادب په روڼ آسمان کې تکړه شاعر، پیاوړی داستان او کیسه لیکونکی، هڅاند څېړونکی او ژباړونکی دی، د ریالیسم نړېوال ادبي او هنري ښوونځی په تړاو ځانگړې مرکه

## مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود

د علم، ادب او فرهنگ پتمنو او درنو مینه والو!

ادب د انسان د باطن او د روح هغه رڼه، روښانه او ځلېدونکې هینداره ده چې د زماني څېره پکې ښکاري. ادب د انسان هغه معنوي سفر دی چې پیل یې له یوې کلمې کېږي، منزل یې د انسان زړه وي، او لاره یې د زمانو له حافظې تېرېږي. هره ټولنه، هره زمانه او هر تمدن خپلې ځانگړې فکري، ټولنیزې، فلسفي او هنري

آزماېښت او تجربې لري؛ ادبي مکتبونه هم د همدې آزماېښتونو او  تجربو له زړه څخه راټوکېږي. ادبي ښوونځی یوازې د لیکوالو د لیکلو یوه طریقه نه ده، بلکې د یوې ځانګړې دورې د فکر، احساس، ښکلاپېژندنې، ټولنیزو ارزښتونو او هنري لیدلوري ګډه هینداره ده. د نړۍ په ادبي تاریخ کې ټول نړېوال ادبي مکتبونه د انسان د فکري او هنري پرمختګ او پراختیا بېلابېل پړاوونه څرګندوي. هر مکتب له خپل مخکیني ښوونځي سره د همغږۍ، مخالفت یا نوي تعبیر له لارې د ادب په تاریخ کې نوی باب پرانیستی دی. د ادبي مکتبونو پېژندنه د ادب د تاریخ پېژندنه ده. ادبي مکتبونه د ادب پر مخ لیکل شوي نومونه نه دي؛ بلکې د انسان د فکر پر اوږده سفر د زمانې نښې دي.

ښاغلي علم ګل سحر د علم، ادب او فرهنګ په تېره بیا د پښتو ادب په رنګین، غوړېدلي او سمسور بڼ کې هغه نومیالی شاعر، داستان او کیسه لیکونکی، څېړونکی، ژباړونکی او ځلانده علمي او ادبي څېره ده، چې په خپلو ګټورو او اغېزناکو منظومو او منثورو نښیرونو(آثارو) یې د پښتو ژبې او ادب ته بې ساري خدمتونه او چوپړ تر سره کړی دی.

ښاغلی افضل ټکور د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، هځاند او تکړه شاعر او ادیب د ښاغلي علم ګل سحر په اړوند په خپله یوه لیکنه کې داسې وایي:

(( ښاغلی علم ګل سحر د څلورو لسیزو راهیسې له نږدې نه پیژنم هاغه وخت چې موږ په کابل کې ژوند کولو زه بیا ډیر کلونه وړاندې له هیواد نه ووتلم او سحر صاحب د جمهوریت تر اخره په کابل کې پاتې شو، د جګړې لمبې یې وزغملې ؟ لوږې او ژورې یې ولیدلې له ډیرو ستونزو سره سره یې خپلې ژبې او فرهنګ ته خورا زیات او ګټور کار وکړ. تر کومه ځایه چې زه ګران سحر پیژنم هاغه یو ښه لیکوال ،یو ښه شاعر، یو ښه ژورنالست او ښه ژباړونکی دی او په دغه ټول ژوند کې یې خپلې

خوږې ژبې پښتو ته ډېر داسې تلپاتې اثار ډالۍ کړي چې هم يې د راتلونکي نسل له پاره يو ښه ماخذ بللی شو او هم به د هاغه نوم تر ډېره ژوندی وساتي د ریالیزم په اړه دغه هر اړخیزه او په زړه پورې مرکه یې زما د پورتنیو خبرو ښه پخلی کولی شي.

گران سحر صاحب ته د اوږد او له بریو نه د ډک ژوند دعا کوم او په دې هیله چې خپلې ژبې ته لا ډېر کار او زیار وگالي.))

په پښتنی مینه

افضل ټکور

***

د سحر صاحب په شعرونو، کیسو او داستانونو کې د پام وړ ادبي او هنري نوښتونه، ټولنیز، انساني او پښتني ارزښتونه، د ولسي او ملي ژوند بېلابېل اړخونه، د هېواد او هېوادوالو سره او د پښتو او پښتونولۍ سره ژوره مینه په خوږو او زړه وړونکو الفاظو، شاعرانه او هنري ژبه انځور شوې دي.

عبدالوکیل سوله مل شینواری، چې د پښتو ژبې او ادبیاتو وتلی او پیاوړی کیسه لیکوال او تکړه ناول لیکونکی دی. ده په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي علم گل سحر په تړاو داسې کښلې دي:

(( علم گل سحر؛ د پښتو ادب نوښتگر او پرکار پنځوونکی.

علم گل سحر د افغانستان په معاصرو ادبیاتو کې یو اشنا او ځلانده نوم دی. نوموړی د یوه تکړه شاعر او لیکوال ترخنگ ښه ژباړن او څېړونکی هم دی، چې تر

دې دمه یې څو شعري ټولګې، یو ناول او د کیسو څو ټولګې پنځولې دي. پر دې سربېره یې یو شمېر ناولونه هم ژباړلي او خپاره کړي دي.

سحر نه یوازې د ژورو تاریخي او فلسفي کیسو او ناولونو لیکوال دی، بلکې د طنزي کیسو په پنځولو کې هم ځانګړې مهارت لري. نوموړی، چې د داستاني اثارو او ښکلو شعرونو د لیکلو او پنځولو لوړ استعداد لري، د کیسې او شعر له هنري او ادبي جوړښت سره هم ښه اشنا دی؛ ځکه خو یې د ګڼو لیکوالو شعرونه او کیسې په ځیرکتیا شنلي او کره کتنه یې پرې کړې ده.

د داستاني او شعري پنځونو ترڅنګ، سحر د فولکلوریکو څېړنو او جګړه‌ییزو خاطراتو لیکوال هم دی. نوموړی نه یوازې د خپلو همزولو لیکوالو په منځ کې د یوه نوښتګر لیکوال او شاعر په توګه ځانګړی ځای لري، بلکې د خپلو لیکنو د څومره‌والي او څرنګوالي له مخې یې هم د پام وړ مقام خپل کړی دی.

هغه نه یوازې د خپلو تخلیقي او څېړنیزو اثارو په وسیله د پښتو ادب بڼ ته ښکلي ګلان ډالۍ کړي، بلکې د پښتو ادبي ټولنو په جوړولو او تنظیمولو کې یې هم رغنده ونډه اخیستې او د پښتو ادب د ودې او بډاینې لپاره یې ارزښتناک خدمتونه ترسره کړي دي.

لنډه دا چې علم ګل سحر د پښتو ادب یو پرکار، نوښتګر او څو اړخیز لیکوال او شاعر دی، چې د خپلې ادبي او فرهنګي هڅې له لارې یې د پښتو ادب په غوړېدا کې د پام وړ ونډه اخیستې ده. نوموړی د پښتو ادبي کاروان یو مخکښ او خوځنده لاروی دی، چې د قلم رڼا یې د پښتو ادب پر بېلابېلو برخو خپره شوې ده.))

عبدالوکیل سوله مل شینواری.

***

ما د ښاغلي علم ګل سحر سره د شعر و شاعرۍ، ادب او داستانونو او کیسو په تړاو دوې ارزښتناکې او ګټورې مرکې جوړې کړېدي.

خو دا ځل مې د نړېوال ادبي او هنري ریالیزم ښوونځی په تړاو ورسره یوه ځانګړې مرکه جوړه کړې ده.

ریالیزم هغه ادبي مکتب دی چې ادب یې له اسمانه ځمکې ته راکوز کړ، عادي انسان یې د داستان منځ ته راوست، د ټولنې دروازې یې پرانیستې.

ریالیزم د انسان او ټولنې اړیکه جدي اخلي. په ریالیستي داستان کې کرکټر یوازې په تشه فضا کې ژوند نه کوي؛ د کورنۍ، اقتصاد، ټولنیزو دودونو، طبقې، کار، زده‌کړې او چاپېریال اغېز پرې لیدل کېږي.

له همدې امله ریالیستي ادبیات ډېر وخت د یوې ټولنې ټولنیزه هینداره هم ګڼل کېږي.

ګرانو مینه والو د نړېوال ریالیزم ښوونځی په اړه به نور پوره او بشپړ مالومات د ښاغلي علم ګل سحر په دې څېړنیزې مرکې کې ولولو.

ښاغلی علم ګل سحر یو دروند، پاک زړی، متواضع او خواخوږی شخصیت دی. دی له هېواو او هېوادوالو، پښتو او پوښتونولۍ سره او د خپلو ملګرو، یارانو او دوستانو سره ژوره مینه لري.

***

ګران سحر صاحب بیا هم سلامونه او درنښت، اجازه راکړئ خپلې پوښتنې پیل کړم.

گران انجنير صاحب مسعود نړۍ مننه زه هم تاسو او ټولو مينه والو ته سلامونه وړاندې کوم. ستاسو په چوپړ او خدمت کې يم.

***

**مسعود:** سحر صاحب نړېوال ادب څنګه راپېژنئ؟ بنسټيزې، مهمې او اړينې ځانګړتياوې يې څه ډول ارزوئ؟

**سحر:** مننه انجنيرصاحب نړيوال ادب هغه ادبي ميراث ته ويل کېږي چې د يوې ځانګړې ژبې، ملت يا سيمې له پولې څخه اوړي او د بېلابېلو ملتونو لوستونکو ته د ارزښت وړ وي. نړيوال ادب د انسان ګډې تجربې لکه مينه، جګړه، مرګ، ژوند، ازادي، عدالت، فقر، کډوالي، ټولنيز نابرابري او د انسان رواني ستونزې بيانوي. نړيوال ادب يوازې د بېلابېلو ملتونو د ادبياتو مجموعه نه ده، بلکې هغه پراخه ادبي نړۍ ده چې د انسان ګډې تجربې يې بيان کړې دي.

د نړيوال ادب يوه مهمه ځانګړتيا دا ده چې د فرهنګي توپيرونو تر څنګ د انسان ګډ ارزښتونه هم راڅرګندوي. د روسي، فرانسوي، انګليسي، جرمني، امريکايي، لاتيني امريکايي او نورو ملتونو په سترو اثارو کې، سره له دې چې سيمې او کلتورونه بيل دي، د انسان د آزادۍ، عدالت، مينې، مرګ، يوازيتوب او هيلې مسئلې ډېرې سره نږدې دي. له دې خاطره نړيوال ادب د ملتونو ترمنځ د فرهنګي پېژندنې او فکري تفاهم يو مهم پل هم ګڼل کېدای شي.

**مسعود:** تاسو په نړېوال ادب کې د جګړو، توتريخوالي، کډوالۍ او پرديسۍ اغېز څنګه څېړئ؟

**سحر:** جګړې او کډوالۍ د نړيوال ادب له مهمو موضوعاتو څخه دي. جګړه د انسان رواني، ټولنيز، اقتصادي او اخلاقي ژوند زيانمنوي او ادبيات د دغو اغېزو

تصویر په ډیره عاطفي بڼه وړاندې کوي.

کډوالي او پردیسي بیا د هویت، وطن، ژبې، خاطرو، یوازیتوب او د پردي چاپېریال سره د انسان د مبارزې موضوعات رامنځته کوي.

د جګړې ادبیات یوازې د جګړې د ډګر بیان نه کوي، بلکې د هغې تر شا د انسان درد، د کورنۍ له لاسه ورکول، بې‌کوري، مهاجرت او رواني زیانونه هم څرګندوي. له همدې امله د جګړې او کډوالۍ ادبیات د تاریخ د انساني اړخ د ساتلو مهمه وسیله ده.

**مسعود:** د کلاسیک او معاصر نړیوال ادب ترمنځ توپیر څه دی؟

**سحر:** کلاسیک ادب تر ډېره د خپلې زمانې له فلسفي، دیني، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو سره ژوره اړیکه لري او د انسان د ژوند د بنسټیزو پوښتنو د بیان لپاره نسبتاً ټاکلي هنري قالبونه کاروي. معاصر ادب بیا د ژوند د پېچلتیا، فردي تجربې، ټولنیزو بدلونونو، جګړو، مهاجرت، ټکنالوژۍ، هویت او رواني بحرانونو ته ډېر پام کوي.
خو د دواړو ترمنځ مطلقه فاصله نشته. یو مهم کلاسیک اثر نن هم اوسنیو لوستونکو ته جالب دی، ځکه چې د انساني ژوند اساسي پوښتنې او غوښتنې ډېرې نه بدلېږي. توپیر تر ډېره د بیان په طرز، د موضوعاتو پراخوالي او د انسان د تجربې په بیانولو کې دی.
**مسعود:** یو شمیر لیکوال وایي: ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، چې د ټولنې او وګړو تر منځ د پوهولو او راپوهولو وسیله ده. تاسو ژبه څه ډول راپېژنئ؟ او دا راته وویاست، چې د ژبې او ادب ترمنځ کومې مهمې ځانګړتیاوې شتون لري؟

**سحر:** دا ما ته تر ډیره یوه مشکله پوښتنه ده، زه ژبپوه نه یم، ژبپوهان به دې ډول پوښتنو ته ښه او مسلکي ځوابونه ولري خو دومره ویلی شم چې ژبه د انسان د فکر،

احساس، تجربې او اړیکې تر ټولو مهمه وسیله ده. انسان په ژبه نه یوازې له بل انسان سره خبرې کوي، بلکې خپل فکر منظموي، خپل کلچر له یوه نسل څخه بل ته لېږدوي او خپله تاریخي حافظه ساتي.
ادب د همدې ژبې هنري او تخلیقي کارونه ده. په ادبیاتو کې ژبه د افهام او تفهیم له سطحې د هنري هستونې وسیلې ته لوړېږي؛ استعاره، تصویر، اهنگ، سمبول، تخیل او عاطفه ورسره یوځای کېږي. له همدې امله د ژبې او ادب اړیکه ډېره نږدې ده: ژبه د ادب ماده ده او ادب هغې مادې ته هنري روح ورکوي.

**مسعود:** ستاسو په اند کوم ډول نښیرونه (اثار) د ادبي نښیرونو (اثارو) او ادبیاتو په توګه وېشل کېدای شي؟ او دا راته ووایاست څه وخت لیکوال او شاعر یو ادبي اثر پنځولای شي؟

**سحر:** ادبي اثر هغه تخلیقي اثر دی چې د ژبې له هنري کارونې، تخیل، عاطفې، فکر، تصویر او ځانګړي هنري جوړښت څخه برخمن وي. شعر، لنډه کیسه، ناول، ډرامه او ادبي نثر د ادبیاتو له مهمو ژانرونو څخه دي.
زما په اند، لیکوال هغه وخت ادبي اثر پنځوي چې د ژوند یوه تجربه، پوښتنه یا احساس په هنري ژبه بدل کړای شي. یوازې پېښه د ادبي اثر لپاره بسنه نه کوي، موږ هره ورځ ځینې پیښې وینو خو په اړه یې حتماً څه نه لیکو خو د پیښې هنري تعبیر، د شخصیتونو جوړونه، ژبه، جوړښت او د لیکوال ځانګړی لید هغه څه دي چې یو عادي روایت په ادبي اثر بدلوي.
**مسعود:** ښه به وي که تاسو د ادبیاتو د موخو او دندو، همداراز د ژمنو او نا ژمنو ادبیاتو او د ادبیاتو د نورو اړخونو په تړاو لږ څه رڼاوی ورکړئ؟

**سحر:** ادب څو اړخیزه دنده لري. ادب د انسان د احساس او فکر بیان دی، د

ټولنې هنداره ده، د فرهنګي حافظې ساتونکی دی او د انسان د روح د تسکین او فکري بيدارۍ وسيله هم ده. ښه ادب انسان ته يوازې معلومات نه ورکوي بلکې هغه فکر کولو ته هڅوي ځو پوښتنې وکړي او د بل انسان له تجربې سره ځان شريک احساس کړي.
ژمن ادب د ټولنې، انسان او د خپل وخت له مهمو مسئلو سره ځرګند فکري او انساني تړاو لري.  غير متعهد ادب بيا هڅه کوي چې له مستقيمو ټولنيزو او سياسي ژمنو څخه ځان ليرې وساتي او تر ډېره د فردي تجربې، ښکلا او هنري خپلواکۍ موضوعات تعقيب کړي. خو دا دواړه بايد په ساده ډول د ښه او بد ادب په معنا ونه ګڼل شي؛ د يوه اثر هنري ارزښت د هغه له ځرنګوالي(کيفيت)، ژورتيا او تخليقي ځواک سره تړاو لري.

اوس به راشو د ادبي ښوونځيو لورليد ته:

د ادبي مکتبونو او سبکونو په تړاو خبرو ته:

**مسعود:** تاسو ادبي مکتبونه، ادبي سبک، تګلوري او ارزښت يې، همدا راز ادبي ځېلونه (ژانرونه) څنګه راپېژنئ؟ کوم مکتوبونه کولای شو د ادبي مکتبونو په نوم ونومولای شو؟

**سحر:** ادبي مکتب هغه فکري او هنري جريان دی چې د يوې دورې يا يوې ډلې ليکوالان د انسان، ټولنې، هنر او ژوند په اړه په ځينو ګډو اصولو او ليدلورو سره نږدې کوي. رومانتيزم، رياليزم، ناتوراليزم، سمبوليزم، سورياليزم او وروسته ځينې نور هنري جريانونه د ادبي مکتبونو او خوځښتونو مهم مثالونه دي.
سبک بيا د يوه ليکوال يا هنرمند د بيان ځانګړې طريقه ده. ژانر د ادبي اثر ډول ته ويل کېږي؛ لکه شعر، رومان، لنډه کيسه، ډرامه او ادبي  نثر. تګلوری تر ډېره

د فکر او هنري حرکت عمومي مسیر څرګندوي. د دغو مفاهیمو توپیر پېژندل د ادبي نقد او څیړنې لپاره ډېر مهم دی.

**مسعود:** تاسو د ادبي نړېوال مکتبونو په بهیر کې د ادبي ځېلونو (ژانرونو) د بنسټیزو بدلونونو د ودې او پرمختیا په اړه څنګه اندئ؟

**سحر:** ادبي ژانرونه ثابت او تړلي قالبونه نه دي. د ټولنې، انسان او د بیان د اړتیاوو له بدلون سره ژانرونه هم بدلېږي. د رومان د ژانر پراختیا، د لنډې کیسې وده، د نوې ډرامې رامنځته کېدل او د شعر د نوو ډولونو پیدا کېدل د همدې تحول بېلګې دي.
زما په اند، ادبي مکتبونه هم له ژانرونو سره متقابل اغېز لري. کله چې د انسان د ژوند په اړه نوی لید پیدا شي، لیکوال د بیان نوې لارې لټوي؛ او کله چې نوی هنري فورم رامنځته شي، هغه بیا د ادبي فکر د پراختیا لپاره زمینه برابروي.
**مسعود:** د هیڅ ادبي مکتب رامنځته کېدنه ناڅاپه او له سریزې پرته نه وي، د هر یوه ډېرې نښې د پخوانۍ دورې په ادبي نښیرونو (اثارو) کې موندل کېدای شي. تاسو هغه لاملونه او توکي څنګه ارزوئ چې د ادبي مکتبونو د پیدایښت، جوړېدنې، بدلون، ودې، پرمختګ او د له منځه تللو لامل ګرځي؟

**سحر:** لکه څنګه مو چې دمخه وویل ادبي مکتبونه د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، فلسفي او فرهنګي بدلونونو له چاپېریاله راټوکېږي. کله چې په ټولنه کې د انسان د ژوند شرایط بدلېږي، ادبیات هم د بیان نوې لارې غواړي. صنعتي انقلاب، د ښارونو پراختیا، ټولنیزې طبقې، سیاسي انقلابونه، علمي پرمختګونه او فلسفي نظریات ټول د ادبي مکتبونو پر جوړېدو اغېز لري.
هیڅ نوی مکتب له صفره نه پیلېږي؛ په پخوانیو اثارو کې یې مقدماتي نښې لیدل

کېږي. مکتب هغه وخت پیاوړی کېږي چې یو شمېر لیکوالان ورته ګډ هنري او فکري جهت ورکړي. وروسته د زمانې په بدلېدو سره یا په نوي مکتب کې جذبېږي او یا خپل تاریخي اهمیت ورو ورو له لاسه ورکوي.

**مسعود:** تاسو ریالیستیک ادبیات څنګه راپېژنئ؟ د دې ادبیاتو تر ټولو اړینې ځانګړنې او مهمې ځانګړتیاوې کومې دي؟

**سحر:** ریالیستیک ادب هڅه کوي چې د انسان او ټولنې ژوند له واقعي شرایطو سره په نږدې اړیکه کې انځور کړي. ریالیزم د ژوند د ښکلا تر څنګ د هغه ستونزې، تضادونه، بېوزلي، نابرابري، کورنۍ اړیکې او ټولنیز واقعیتونه هم ویني.

د ریالیستي ادب مهمې ځانګړنې د واقعي ژوند مشاهده، د شخصیتونو طبیعي جوړونه، د ټولنیز چاپېریال دقیق انځور، د علت او معلول اړیکو ته پاملرنه او له مصنوعیتوب څخه ډډه ده. البته ریالیزم داسې هم نه دی چې یوازې کټ مټ واقعیتونه لکه د عکاسي کامره را انتقال کړي، لیکوال واقعیتونه ویني، انتخابوي یې او په هنري بڼه یې لوستونکو ته وړاندې کوي.

**مسعود:** د ریالیستیکو ادبیاتو تر ټولو مهم، نوښتګر او مخکښ لیکوال څوک ول؟ مهرباني وکړئ د هغوی د نامتو او ګټورو نښیرونو(اثارو) نومونه واخلئ.

**سحر:** د ریالیزم په وده کې ګڼو لیکوالو مهم رول درلود په دې بهیر کې د نړۍ د مختلفو هیوادونو ځینو لیکوالو برخه لرله. د بېلګې په توګه: په فرانسه کې انوره دو بالزاک، ستاندال او ګوستاو فلوبر، په انګلستان کې چارلز دیکنز او جورج الیوت، په امریکا کې ویلیام ډین هاولز او مارک تواېن  او په روسیه کې تولستوی، داستایفسکي، تورګنوف او چیخوف د ریالیستي ادب له مهمو څېرو څخه دي.

د بالزاک «انساني کمدي»، د فلوبر «مادام بوواري»، د دیکنز «الیور ټویسټ» او

«سخت وختونه»، د جورج اليوت «مډلمارچ»، د تولستوی «جګړه او سوله» او «آنا کارنينا» او د داستايفسکي «جنايت او سزا» هغه آثار دي چې د واقعيت، ټولنې او انسان د ژورې مطالعې له امله ځانګړی اهميت لري.

**مسعود:** تاسو د رياليسم (ريښتياپاله) ښوونځی څنګه راپېژنئ او ارزوئ، هغه ادبي هنري مکتب، چې د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې راوټوکېده، يانې په اروپا او امريکا کې د (۱۸۸۰-۱۸۵۰)زېږديز کلونو تر منځ راڅرګند شو. مهرباني وکړئ د دې مکتب د تاريخ، آر او بنسټ په اړه لنډ مالومات راکړئ، چيرته، کله او د چا لخوا جوړ کړای شوی او لومړني بنسټ ايښودونکي يې څوک ول؟

**سحر:** رياليزم د نولسمې پېړۍ په اروپا کې د رومانتيزم د ځينو ځانګړنو په وړاندې د يوه نوي هنري تمايل په توګه پياوړی شو. خو دا بايد په يوه ټاکلي کال يا يوه شخص پورې محدود نه شي. د دې مکتب ريښې تر دې مخکې هم په اروپايي ادبياتو کې ليدل کېږي، خو د نولسمې پېړۍ په منځنيو لسيزو کې يې ځانګړی فکري او هنري هويت پيدا کړ.
فرانسه د رياليستي غورځنګ له مهمو مرکزونو څخه وه او بالزاک، ستاندال، فلوبر او نورو ليکوالو د دې لارې په پياوړتيا کې مهم رول ولوباوه. په نورو هېوادونو کې هم رياليزم په بېلابېلو بڼو وده وکړه. نو رياليزم د يوه شخص اختراع نه، بلکې د اوږدې ادبي او ټولنيزې ودې نتيجه ده.

**مسعود:** د رياليزم پېړی د نيوکو او کره کتنې پېر دی. داسې يو پېر، چې د ذهني حساسيت لوړتيا د تخيل په ځواک او د روښانوونکې پوهې د وسلې په مټ سيالۍ ته راپاڅېږي. ښه به وي که د نومونړي ښوونځي په رامنځته کيدو کې د اغيزمنو لاملونو په اړه لنډ مالومات ورکړئ.

**سحر:** د ریالیزم تر شا څو مهم عوامل موجود وو: صنعتي انقلاب، د ښارونو پراختیا، د منځنۍ طبقې وده، د ټولنیزو طبقو بدلون، د علم او تجربوي فکر پراختیا او د پخوانیو رومانتیکو تصوراتو په مقابل کې د ربښتیني ژوند د انځورولو ضرورت.
همداراز د نولسمې پېړۍ ټولنیزو ستونزو لکه فقر، د کارګرانو ژوند، طبقاتي توپیرونو او د ښارونو چټکې پراختیا ـ لیکوال دې ته وهڅول چې له خیالي او ایډیالي نړۍ څخه د واقعي ژوند پر لوري راوګرځي. له همدې امله ریالیزم له خپل عصر سره ژوره ټولنیزه اړیکه لري.

**مسعود:** ویل کېږي: (شانفلوري زیږیدنه ۱۸۲۱زبږدیز کال ـ مړینه ۱۸۸۹زبږدیز کال)، رومان لیکونکی او هنري فرانسوي منتقد او کره کتونکی، همدا راز(مورژه زیږیدنه ۱۸۲۲ز کال ـ مړینه ۱۸۶۱ ز کال) ، شاعر، رومان لیکونکی او فرانسوي لیکوال، (دورانتي زیږیدنه ۱۸۸۴ز ـ مړینه ۱۹۵۷ز کال)، بریتانیایي لیکوال او رسنوال وو، چې د شوروي دولت د واکمنۍ په وخت کې په مسکو کې د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د ادارې سروال هم وو. دا نوموړي کسان د ریالیسم د ادبي ښوونځی له بنسټ ایښودونکو څخه ګڼل کېږي. تاسو د دغو لیکوالو د اندونو، عقایدو او لید توګو او د هغوی د نوموتو نښیرونو(اثارو) په تړاو څه لید لرئ؟

**سحر:** شانفلوري د فرانسوي ریالیزم له هغو لیکوالو او منتقدانو څخه وو چې د عادي ژوند د واقعي انځور ملاتړ یې کاوه او د هنري واقعیت د بیان غوښتنه یې کوله. د ده اهمیت تر ډېره په همدې ادبي تمایل کې دی.
خو د دې پوښتنې په اړه باید یوه علمي احتیاط هم وشي. د ریالیزم د بنسټګرو نوملړ باید په ساده ډول د دغو دریو کسانو په نوم محدود نه شي، او د دورانتي په اړه د ورکړل شویو معلوماتو کره تاریخي تثبیت هم ضروري دی. د ریالیزم پیدایښت یو

پراخ اروپایي بهیر و چې بالزاک، ستاندال، فلوبر او نورو لیکوالو پکې ډېر روښانه نقش درلود.

**مسعود:** تاسو د ریالیسم د ښوونځی د موخو، اندونه، ځانګړنو، بنسټیز اندیزونه او د ربښتیني او عیني قانونمندی په اړه څه لید لرئ؟ ستاسو په اند، ربښتیني ریالیست لیکوال او پوهان باید په خپلو نښیرونو(اثارو) کې کومو اړخونو ته پام وکړي، چې نښیرونه(اثار)یې د لوستونکو او اورېدونکو د پام وړ وګرځي او له دې نښیرونو (اثارو) څخه په ګټوره توګه اغېزمن شي؟

**سحر:** د ریالیزم اساسي موخه دا ده چې انسان او ټولنه په داسې هنري بڼه وړاندې کړي چې د ژوند له واقعي شرایطو سره اړیکه ولري. ریالیست لیکوال هڅه کوي چې شخصیتونه یوازې سپین یا تور ونه ښیي، بلکې د هغوی د چلند تر شا ټولنیز، رواني او اقتصادي عوامل هم څرګند کړي.
ریالیزم له عیني حقیقت سره اړیکه لري، خو ادبي اثر داسې نه دی چې ژوند عیناً را کاپي کړي. لیکوال د واقعیت له منځه هغه څه انتخابوي چې هنري او انساني معنا ولري. له همدې امله ښه ریالیست باید هم د ژوند ښه مشاهده ولري او هم د هنري انتخاب، ژبې او جوړښت وړتیا ولري.

**مسعود:** په بېلابېلو هېوادونو کې د ریالیسم د پرمختیا او پراختیا په تړاو، کومو نامتو لیکوالو له خپلو مستندو او معتبرو نښیرونو(اثارو) سره د ریالیسم د مکتب په بډاینه، پرمختګ او وده کې، مهم او اړین ګامونه پورته کړې دي؟

**سحر:** لکه د مخه مو چې هم یاد کړل په فرانسه کې بالزاک، ستاندال او فلوبر، په انګلستان کې ډیکنز او جورج الیوت، په امریکا کې مارک تواین او ویلیام ډین

هاولز، په روسیه کې تولستوی، داستایفسکي، تورگنیف او چیخوف د ریالیزم په وده کې ځانگړی رول لري.
وروسته بیا د شلمې پېړۍ لیکوالو د ریالیستي میراث نوې بڼې رامنځته کړې. هیمنگوی، اشتاین‌بک او فاکنر د جگړې، فقر، ټولنیزو بدلونونو او فردي بحرانونو په بیان کې د واقعیت نوې لارې وکارولې. له همدې امله ریالیزم له نولسمې پېړۍ سره پای ته نه دی رسېدلی.

**مسعود:** تاسو په بشري ټولنه کې د منځنۍ او ښکته پاړکۍ(طبقې) د کارکونکو تر منځ د ریالیسم د مکتب د اندونو، لیدلورو، عقایدو او ارزښتونو اغیز څنگه ارزوئ؟

**سحر:** ریالیزم د هغو خلکو ژوند ادبي مرکز ته راوړ چې پخوا ډېر ځله د لوړپوړو طبقو تر سیوري لاندې پاتې وو. کارگر، دوکاندار، بزگر، کوچنی مامور، بېوزله کورنۍ او د ښار عادي اوسېدونکی د ریالیستي ادب په نړۍ کې د ادبي شخصیت حیثیت پیدا کوي.
دا کار یوازې د طبقې د تصویرولو مسئله نه وه؛ بلکې د انساني کرامت د ادبي پېژندنې مسئله هم وه. ریالیست ادب ښیي چې د عادي انسان ژوند هم د لوی رومان او لویې کیسې وړ دی. له همدې امله ریالیزم د ټولنیز عدالت او انساني تجربې په پراخولو کې مهم ادبي رول لري.

**مسعود:** ویل شوي دي: په انگلستان کې جورج الیوټ (۱۸۱۹-۱۸۸۰) چې د ویکتوریا په واکمنۍ کې انگلیسي رومان لیکونکی او شاعر وو او په امریکا کې ویلیام ډین هاولز (۱۸۳۷-۱۹۲۰) چې د (۱۹)مې پېړۍ د ریالیزم د مکتب تر ټولو نوموتی لیکوال وو، دوی وتوانیدل چې د ریالیسم ښوونځی رامینځته کړي. تاسو د

دې ليکوالو ليد توګي، عقايد او اندونه څنګه ارزوئ؟  او د دوی د ګټورو او اغېزمنو نښيرونو(اثارو) په تړاو څه اند لرئ؟

**سحر:** بايد ووايم چې ما پخپله د دې ټولو ليکوالو اثار نه دي لوستي چې د هر يوه په اړه دقيق نظر څرګند کړم خو بيا هم د ځينو مطالعاتو او معلوماتو له مخې ويلی شم چې جورج اليوت د انسان د شخصيت، اخلاقي انتخابونو او ټولنيز چاپېريال ژوره مطالعه کړې ده. د هغې (مډلمارچ) ناول په ځانګړي ډول د يوې ټولنې د خلکو اړيکې، هيلې، تېروتنې او ټولنيز جوړښت په پراخ ډول انځوروي، تاسې پوهيږئ چې جورج اليوت يا جورج ايليت د ميرمن ماري اين ايوانز مستعار نوم و، هغې دا نارينه نوم ځکه کاراوه چې په نولسمه پيړۍ کې يې ليکنې جدي وګڼل شي يعني اروپا هم يو وخت زموږ غونډې په داسې تيارو کې ډوبه وه چې د ميرمنو کار او ليکنو ته يې ارزښت نه ورکاوه.
ويليام ډين هاولز بيا د امريکايي ژوند د عادي خلکو د تجربو او د ټولنيز واقعيت د انځورولو په خاطر مشهور دی. د دواړو ګډه ځانګړنه دا ده چې شخصيتونه يې له ټولنيز چاپېريال څخه جلا نه دي، انسان د ټولنې په منځ کې مطالعه کوي.

**مسعود:** پر (۱۸۳۵) زيږديز کال کې په انګليسي ادبياتو کې، په تېره بيا په رومان ليکنه کې يو فرهنګياله خپلواک رياليزم راټوکيد، په دې پېر کې د انګليسي ادبياتو نامتو استازی (چارلز ډيکنز ۱۸۷۰ز-۱۸۱۲ز) وو. تاسو د دې نوموتي او پيژندل شوي ليکوال رياالستيک عقايد، ليد توګی، ليد لوری، نامتو او باوري نښيرونه( آثار) او د نوموړي ليکوال د ګټورو او ارزښتمنو اثارو اغيز په نورو هيوادونو کې څنګه ارزوئ؟

**سحر:** ډيکنز د انګليسي رياليزم له تر ټولو اغېزمنو ليکوالو څخه دی. هغه د خپل وخت د لندن او انګلستان ټولنيز ژوند، فقر، يتيم ماشومان، د کار سخت شرايط،

طبقاتي توپیر او د ادارو بې‌رحمي په ډېر ژوندي او هنري ډول انځور کړې ده.
«الیور ټوېسټ»، «ډیوېډ کاپر فیلډ»، «لوېې هیلې»، «سخت وختونه» او «د دوو ښارونو کیسه» یې له مهمو اثارو څخه دي. د ډیکنز ځانګړنه دا ده چې ټولنیز انتقاد یې له طنز، احساس، شخصیت جوړونې او کیسه‌ویلو سره یوځای کړی دی.

**مسعود:** جورج الیوت (۱۸۱۹-۱۸۸۰) د ویکټوریا د پېر یو نامتو انګلیسي رومان لیکونکی او شاعر وو. د نوموتي نښیرونه(اثار) د هغه د ریالستیک لیدلوري او روان پېژندنې په خاطر شهرت لري. تاسو د دې نامتو لیکوال د ریالستیکو عقایدو، اندونو او د ده د ګټور او نامتو نښیرونو(اثارو)  په تړاو څه لید لرئ؟

**سحر:** جورج الیوت د انګلیسي ادبیاتو له پیاوړو لیکوالو څخه دی، د شخصیتونو د داخلي نړۍ په انځورولو کې ځانګړې وړتیا لري. هغه انسان یوازې د ټولنیز موقف له مخې نه معرفي کوي، بلکې د هغه د وجدان، غوښتنو، تېروتنو او اخلاقي انتخابونو ترمنځ اړیکې هم څېړي.
مډلمارچ د هغې تر ټولو مهم اثر ګڼل کېږي  دا ناول په (۱۹)پېړۍ کې د انګلیستان د یوې سیمې د خلکو ټولنیز ژوند، ودونو او مذهب اړخونه انځوروي، کیسه یې د یوه ځوان او پېغلې د ناسم واده په شاوخوا را څرخېږي ناول را ښیي چې څنګه په ټولنه حاکم رواجونه، محدودیتونه او ناسم انتخابونه د انسانانو پر پاکو هیلو اغیز شیندي. (سیلاس مارنر)، (د فلوس پر غاړه ژرنده)، (آدم بیډ) او (روموالا) هم د یادونې وړ دي. د هغې ریالیزم له ساده واقعیت‌انځورونې څخه پورته دی؛ هغه د ټولنې او انسان رواني ژوند دواړه سره تړي.

**مسعود:** ارنسټ میلر هیمنګوی (۱۹۶۱-۱۸۹۹) یو له نوموتو امریکایي لیکوالو او د ادبیاتو د نوبل جایزې ګټونکی وو، جان اشتاین بک (۱۹۶۸-۱۹۰۲) د شلمې پیړۍ یو له غوره او تر ټولو زیات لوستل شوی لیکوال وو او د ادبیاتو د نوبل جایزې ګټونکی هم وو او د ریالیزم د ښوونځي د اندونو او پیغامونو په وده او دودولو کې یې اغېزمن رول لوبولی دی. د دغو لیکوالو د عقایدو، لیدتوګو او اندونو په اړه او د دوی د ډیرو نامتو او ګټورو نښیرونو(اثارو)په تړاو لنډ معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** ارنسټ هیمنګوی د شلمې پېړۍ له مشهورو امریکایي لیکوالو څخه وو. د هغه په اثارو کې جګړه، مرګ، یوازیتوب، انساني زغم او د ژوند ستونزې په ساده، لنډه او اغېزناکه ژبه انځور شوي دي. هیمنګوی د خپل ځانګړي لنډلیکني سبک او واقعیت پالنې لیدلوري له امله شهرت لري. هیمنګوی د ساده، لنډې او له اضافي تشریحاتو څخه پاکې ژبې له لارې د انسان د سختو تجربو بیان ته نوی قوت ورکړ. جګړه، مرګ، مینه، زړورتیا، ماتې او د انسان د مقاومت موضوعات د هغه په اثارو کې مهم دي. (له وسلې سره خدای پاماني) که مې یې پښتو نوم نه وي غلط کړی، (لمر بیا راخېژي) او (بوډا او سمندر) یې له مشهورو اثارو څخه دي.
اشتاین‌بک هم مشهور امریکایي لیکوال دی چې په خپلو اثارو کې یې د بېوزلو، کارګرانو، بزګرانو او محرومو طبقو ژوند او ستونزې انځور کړې دي، دې لیکوال بیا د ټولنیزو بې‌عدالتیو موضوعاتو ته ډېر پام کړی. ( قهر انګور) او (موږکان او انسانان) د هغه د ټولنیز ریالیزم مهم مثالونه دي. دواړه لیکوالان واقعیت ته نږدې دي، خو د بیان او هنري سبک لارې یې سره توپیر لري.

**مسعود:** هنري جیمز( ۱۸۴۳ ز کال ـ ۱۹۱۶ ز کال) یو امریکایي - برتانوي لیکوال وو، او د ریالستیک ادب په تاریخ کې یو نامتو شخصیت تېر شوی دی. د نوبل د جایزې دغه نوماند د خپلو ارزښتناکو نښیرونو(اثارو)اوکتابونو لکه: "ډیزي میلر" او

"ځنګل کې حیوان" لپاره زیاتره پیژندل شوی دی. تاسو د دغې نوموتي لیکوال، د سبک، تګلوری، عقاید، اندو واند په اړه او د ده د ګټورو او د پاموړ نښیرونو(اثارو) په تړاو لنډه رڼا واچوئ.

**سحر:** محترم مسعودصاحب د دې هر لیکوال چې تاسې یې یادونه کړې، په اړه ډیرې خبرې کیدای شي ځکه دوی هر یوه پخپله برخه کې ډیر کار کړی دی او تلپاتي اثار یې لیکلي دي. هنري جیمز د نولسمې پېړۍ د وروستیو او شلمې پېړۍ د لومړیو مهمو لیکوالو څخه دی چې ریالیزم یې د انسان د شعور او داخلي تجربې تر کچې ژور کړ. هغه د انسان د لیدلوري، ادراک او رواني حالتونو په بیان کې ځانګړې وړتیا لري د هغه په لیکنو کې د کرکټرونو ذهني نړۍ او د پېښو په اړه د هغوی لیدلوري ځانګړی اهمیت لري...
(ډیزي میلر)، (د یوې مېرمنې انځور) او ( سفیران) یې مهم آثار دي. «د ځنګل حیوان» هم د هغه له رواني او فکري اثارو څخه دی. د جیمز هنر موږ ته ښیي چې واقعیت یوازې هغه څه نه دي چې سترګې یېویني، د انسان داخلي ادراک هم د واقعیت یوه مهمه برخه ده.

**مسعود:** ویل کېږي: په امریکا او انګلستان کې ریالیسم توپیر درلود. تاسو د امریکایي او برتانوي ریالیستانو په نامتو او  زړه راښکونکي نښیرونو(اثارو) کې دا ځانګړي توپیرونه څنګه ارزوئ؟

**سحر:** د دواړو هېوادونو ریالیزم ګډې ځانګړنې لري، خو ټولنیز چاپېریال یې توپیر درلود. انګلیسي ریالیزم د صنعتي انقلاب، ښاري فقر، طبقاتي جوړښت او د هغه وخت د ټولنې له ستونزو سره ژوره اړیکه لرله، ډیکنز او جورج الیوت یې ښه مثالونه دي.

امریکایي ریالیزم بیا د نوې ټولنې، مهاجرت، پراخې جغرافیې، اقتصادي بدلون، فردیت او د کورنۍ جګړې وروسته د ټولنیز ژوند له تجربو سره تړاو لري. مارک تواین، هاولز او وروسته هیمنګوی او اشتاین‌بک د دې بدلون بېلابېلې مرحلې څرګندوي.

**مسعود:** د ریالیزم د مکتب اهمیت او ارزښت په دې دک و دلیل روښانه او څرګند دی، چې روستیو ښونځیو د هغې ارزښت او اتبار نه شوای کمولای او په یو ځانګړې پېر پورې محدود پاتې نه شو، بلکې په ټولو پېرونو کې یې مینه وال ومونډل او د نوي رومان لیکنو بنسټ یې کېښود، چې د نن ورځې نړیوال ادب پرې ولاړ دی. تاسو یې څنګه انګېرئ؟

**سحر:** زما په اند د ریالیزم تر ټولو لوی اهمیت دا دی چې ادب یې له مصنوعي او له ژوند څخه لرې تصویرونو څخه راوګرځاوه او عادي انسان، ټولنه او ورځنی ژوند یې د ادبي موضوع په توګه مطرح کړل.
ریالیزم وروسته په نورو ادبي جریانونو کې هم اغېز پرېښود. حتا هغه مکتبونه چې له ریالیزم سره یې مخالفت درلود، په ډېرو مواردو کې یې د واقعیت د انځورولو نوې لارې له همدې میراث څخه اخیستې. له همدې امله ریالیزم یوازې تاریخي مکتب نه دی، بلکې د معاصر داستاني ادب په جوړښت کې یې دوامدار اغېز لیدل کېږي.

**مسعود:** انوره دو بالزاک (۱۸۵۰-۱۷۹۹) په فرانسه او نړۍ کې یو له مخکښو او نامتو لیکوالو څخه دی. نړیوال یې د رښتیني او نوموتي ریالیست لیکوال په توګه یادوي، ده وکولای شول چې د اغېزمنو او ګټورو نښیرونو(اثارو) په پنځولو سره ځان د نړۍ په کچه وروپېژني. تاسو د نوموړي اند او لیدلوری په پرتلیز ډول او د هغه قیمتي او ګرانبیه آثار څه ډول ارزوئ؟

**سحر:** بالزاک د ریالیزم له سترو معمارانو څخه ګڼل کېږي. د هغه ځانګړنه دا ده چې فرد یې له ټولنې، اقتصاد، سیاست، کورنۍ او ټولنیز موقف څخه جلا نه دی مطالعه کړی. هغه غوښتل د خپل وخت د فرانسوي ټولنې پراخ تصویر وړاندې کړي.
د (انساني کمدي) په نوم د اثارو لویه مجموعه یې د فرانسې د ټولنیز ژوند یو ادبي موزیم ته ورته ده. (بابا ګوریو)، (د اوژیني ګرانده) او (ورک شوي خیالونه) یې مهم آثار دي. د بالزاک ارزښت په دې کې دی چې د شخصیت تر شا ټولنیز جوړښت هم رابښيي. تر بالزاک پورې مې یوه خاطره را یاد شوه د کابل په ښارندوی مینه کې د جمعې لمانځه په وخت کې زموږ د جومات ملا وعذ کاوه، پخپلو خبرو کې یې د کفارو هغه ظلمونه یاد کړل چې پر مسلمانانو یې کړي دي، ملا صاحب زیاته کړه یو له دې کفارو څخه بالزاک و، بالزاک دومره ظالم کافر و چې مسلمانان به یې پخپله وژل په هغه ورځ به یې چې ډیر مسلمانان به یې حلال کړي و، ډیر به خوشحاله و او له ډوډۍ څخه به یې خوند اخیست، د ناستو خلکو په څیرو کې له بالزاک څخه کرکه له ورایه بریښیدله، ما له ځان سره وویل : باالزاک بیچاره.

**مسعود:** «انوره دو بالزاک» د خپل ژوند په اوږدو کې له سلو څخه ډیرې مقالې، رومانونه او ډرامې لیکلي دي. د بالزاک لومړنی نښیر(اثر) کوم وُ؟ مهرباني وکړئ د دې نښیر د ځانګړتیا، سکالو، مضمون او منځپانګې په اړه لنډ مالومات وړاندې کړئ.

**سحر:** سخته ده د بالزاک د لومړني اثر په اړه دقیق څه وویل شي ځکه چې بالزاک د خپل ادبي ژوند په لومړیو کې ځینې آثار په مستعارو نومونو خپاره کړي دي. (کروموېل) د هغه له لومړنیو مهمو ادبي هڅو څخه ګڼل کېږي، خو د بالزاک د

لومړنیو اثارو تاریخ له څو مرحلو تیریږي.
په هر حال، د هغه د لومړنیو لیکنو له تجربو وروسته بالزاک ورو ورو هغه سبک ته ورسېد چې د ټولنیز ژوند دقیقې مشاهدې، شخصیت جوړونې او د انسان د اقتصادي او ټولنیزو اړیکو تحلیل یې ځانګړنه وه. د هغه هنري پخوالی په (انساني کمدي) کې په ښه ډول لیدلی شو.

**مسعود:** انوره دو بالزاک یو له نوموتو فرانسوي لیکوالو څخه دی چې د ادب زیاتره مینه وال د ده له نوم سره اشنا دي. هغه د خپلو نښیرونو(اثارو) لپاره د "انساني کمدي " نوم غوره کړی - چې شاوخوا (۹۰) رومانونه، لنډې کیسې او داستانونه دي. د ده په نښیرونو (اثارو) کې یو نښیر(اثر)، (بابا ګوریو) نومېږي. دا نښیر(اثر) د هغه یو له مهمو او ښایسته نښیرونو(اثارو) څخه دی. که د دې نښیر (اثر) د سکالو، مضمون، منځپانګې او پیغام په تړاو او د ده د لیکنو د ځانګړي سبک، عقاید او اندونو په اړوند په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**سحر:** (انساني کمیدي) ما ډیر پخوا لوستی دا د هغه د ناولونو او داستانونو یوه ټولګه ده، چې د نولسمې پېړۍ د فرانسوي ټولنې بېلابېل اړخونه انځوروي. په دې اثر کې د ټولنیزو طبقو ترمنځ توپیرونه، شتمني او فقر، د پیسو او قدرت اغېز، سیاسي او اخلاقي فساد، ټولنیزې سیالۍ او د انسانانو شخصي ګټې څېړل شوې دي. بالزاک په دې اثر کې هڅه کړې چې د خپل وخت د ټولنې یو پراخ او واقعي انځور وړاندې کړي.
(بابا ګوریو) د بالزاک بل مهم اثر دی په دې اثر کې د پلار مینه، د پیسو او ټولنیز موقف غوښتنه، د پاریس د ټولنې طبقاتي جوړښت او د انساني اړیکو تجارتي کېدل مهمې موضوعګانې دي. بالزاک د احساس تر څنګ د ټولنیز واقعیت سخت اړخ

هم رانښيي. د هغه سبک د دقیقې مشاهدې، پراخو جزئیاتو او ژورو شخصیتونو له خاطره ځانګړی دی.

**مسعود:** ویل شوې دي: بالزاک په خپلو نښیرونو(اثارو) کې "په طبیعت کې حقیقت"، له " په ادب کې حقیقت" څخه جلا کوي تاسو د دې لید او عقیدې په تړاو څه اند لرئ؟

**سحر:** په طبیعت کې حقیقت هغه واقعیت دی چې له انسان څخه بهر موجود دی، خو په ادب کې حقیقت د هنرمند له لید، انتخاب او هنري جوړښت څخه تېرېږي. لیکوال د ژوند هر څه نه شي راوړلای؛ هغه د واقعیت له پراخې نړۍ څخه ځانګړي عناصر اخلي او په هنري جوړښت کې یې سره نښلوي.
له همدې امله ادبي حقیقت د عکاسي په معنا عین نقل نه دی. یو رومان کېدای شي خیالي شخصیتونه ولري، خو د هغوی احساسات او ټولنیز حالت دومره رېښتیني وي چې لوستونکی یې د خپل ژوند له تجربې سره وتړي. دا د ادبي حقیقت ځواک دی.

**مسعود:** انوره دو بالزاک سربېره له رومانونو، لنډو کیسو او داستانونو، فلسفي او عرفاني رومانونه  هم ولیکل. ستاسو په اند ولې یې فلسفي او عرفاني اندونو او افکارو ته مخه کړه، تاسو یې دک و دلیل او لاملونه څنګه ارزوئ؟

**سحر:** بالزاک یوازې د ټولنې ظاهري جوړښت نه څېړه، هغه غوښتل د انسان د ژوند تر شا پټې فکري او روحي مسئلې هم وڅېړي. د هغه زمانه د علم، مادیت، دین، فلسفې او ټولنیزو بدلونونو د بحثونو زمانه وه او طبیعي ده چې دا فضا د هغه پر فکر اغېز وکړي.

په ځینو اثارو کې یې فلسفي او عرفاني تمایلات د انسان د غوښتنې، ځواک، اخلاقو او برخلیک د پوښتنو د بیان وسیله ګرځي. دا د هغه د ادبي نړۍ د پراخوالي یوه نښه ده.

**مسعود:** ځینې پېژندل شوي لیکوال چې د انوره دو بالزاک له نښیرونو اغیزمن شوي دي، تاسو د هغه د فلسفي او ادبي اندونو، عقایدو او لیدلورو په رڼا کې د هغو لیکوالو، پنځوونکي او تخلیقاتي نښیرونه (اثار)، چې د بالزاک له نښیرونو(اثارو) سره ورته والی لري څنګه ارزوئ؟

**سحر:** د بالزاک اغېز د نړۍ پر ډېرو داستان‌لیکونکو محسوس دی. زولا، تولستوی، داستایفسکي او وروسته ګڼو اروپايي او امریکايي لیکوالو د هغه له ټولنیز لید، شخصیت جوړونې او پراخې ټولنیزې مشاهدې څخه ګټه اخیستې ده.
د بالزاک مهم میراث دا دی چې رومان یې یوازې د فرد د شخصي کیسې له کچې څخه د ټولنې د لوی تصویر تر کچې ورساوه. وروسته لیکوالانو هم هڅه وکړه چې د فرد او ټولنیز جوړښت ترمنځ اړیکه په همدې ژورتیا وڅېړي.

**مسعود:** ویل کیږي: ریالیسم لومړی د ګوستاو کوربه چې (پر ۱۸۱۹ زیږدیز کال کې زیږیدلی او پر ۱۸۸۷ز کال کې مړ شوی) په نقاشۍ او انځورګرۍ سره پیل شو، چې یو فرانسوي انځورګر او د نولسمې پیړۍ په فرانسوي انځورګرۍ کې د ریالیزم د غورځنګ له سرلارو څخه وو. کوربه په فرانسه کې د نولسمې پیړۍ د نقاشۍ او انځورګرۍ په برخه کې مهم او ځانګړی ځای لري او د یو نوښتګر هنرمند په توګه پیژندل کیږي. ښه به وي که یې د نقاشۍ او انځورګرۍ پر تګلوري او سبک، سکالو، منځپانګې او په تېره پیغام رڼا واچوئ.

**سحر:** هو گوستاو کوربه د فرانسوي ريالیستي نقاشۍ له مهمو استازو څخه و. هغه د تاریخي او اساطیري موضوعاتو پر ځای د خپل عصر عادي خلک، کارگران، بزگران او ورځنی ژوند د نقاشۍ موضوع وگرځول.
د هغه په هنر کې (د ډبرو ماتونکي) او (د اورنان ښخېدنه) مهم مثالونه دي. کوربه غوښتل وښيي چې د عادي انسان ژوند هم د ستر هنري اثر وړ دی. د هغه نوښت په همدې کې و چې واقعیت یې له مصنوعي ښکلا پرته د هنر منځ یا مرکز ته راووست.

**مسعود:** گوستاو فلوبر (۱۸۲۱-۱۸۸۰) د (۱۹)مې پېړۍ د فرانسې له ډېرو اغېزمنو لیکوالو څخه وو، چې د خپلو نامتو اثارو سربېره یې لومړی رومان "مادام بوواري" پر (۱۸۵۷)ز کال کې د یوې رښتینې کیسې پر بنسټ ولیکه. دا رومان د ریالیسم « سپېځلی کتاب» گڼل کیږي. هغه وشوای کړای چې په ټوله نړۍ کې نړیوال شهرت ترلاسه کړي. تاسو د هغه د گټورو او اغېزمنو نبنیرونو(اثارو) او په ځانگړې توگه د فلوبر د «مادام بوواري» نبنیر(اثر) په اړه څه اند لرئ؟

**سحر:** فلوبر د ریالیستي رومان د هنري دقت له سترو استادانو څخه دی. مادام بوواري یوازې د یوې ښځې د ژوند کیسه نه ده، بلکې د خیال او واقعیت ترمنځ د ټکر، ټولنیز فشار، د بورژوا ژوند د محدودیتونو او د مصنوعي رومانتیک تصوراتو د پایلو ژوره مطالعه ده.
فلوبر د ژبې او سبک په انتخاب کې ډېر حساس و. هغه د دقیقې کلمې لپاره هڅه کوله او غوښتل یې چې لیکوال د خپل شخصي قضاوت پر ځای د هنري انځور له لارې واقعیت وړاندې کړي. له همدې امله (مادام بوواري) د ریالیستي رومان له مهمو شاهکارونو څخه گڼل کېږي.

**مسعود:** ستاندال (۱۷۸۳-۱۸۴۲) چې په (۱۹)مه پېړۍ، په فرانسه کې د ریالیزم د تګلوري او سبک له نوموتو لیکوالو څخه دی، د خپلو پېژندل شوو رومانونو له لارې یې په ادبي نړۍ کې ځانګړی ځای خپل کړی دی. که د هغه د عقایدو، اندونو، لیدتوګي سره یې د نامتو نښیرونو(اثارو) په اړوند یوه شننه وکړئ.

**سحر:** ستاندال د انسان د شخصیت، مینې، ټولنیز مقام او سیاسي چاپېریال د ژورې مشاهدې له امله مهم دی. هغه د شخصیتونو داخلي غوښتنې له ټولنیزو شرایطو سره یوځای انځوروي.
(سرې او تورې) او (پارما صومعه) یې مشهور آثار دي. په سرې او تورې کې د جولیان سورل شخصیت د فردي جاه‌طلبۍ او د ټولنیز جوړښت ترمنځ ټکر څرګندوي. ستاندال د ریالیزم د رواني اړخونو په پراختیا کې هم مهم رول لري.

**مسعود:** ویل کېږي: مارسل پروست (۱۸۷۱-۱۹۲۲) نامتو فرانسوي لیکوال رومان لیکونکی، کره کتونکی وو. د دغې پېژاند رومان لیکونکي یو پېژندل شوی نښیر(اثر)، "د ورک شوي وخت په لټه کې " نومېږي. مارسل د دې ګټور او ارښتمن نښیر(اثر) په لیکلو سره د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ کې یو له اوچتو لیکوالو څخه شمیرل کیږي. دا نښیر(اثر) د ریالیسم یو له غوره آثارو څخه ګڼل کیږي. تاسو د هغه د عقایدو، اندونو، لید لوري او د ګټورو او اغېزمنو نښیرونو(اثارو) او په ځانګړې توګه د نومورې د « د ورک شوي وخت په لټه کې » نښیر (اثر)په اړه خپل مالومات راسره شریک کړئ.

**سحر:** پروست د معاصر داستان له سترو لیکوالو څخه دی، خو هغه باید په ساده ډول د نولسمې پېړۍ د کلاسیک ریالیزم په چوکاټ کې محدود نه شي. د هغه ستر اثر (د ورک شوي وخت په لټه کې) د حافظې، وخت، شعور، ټولنیز ژوند او انساني

اړیکو پراخه مطالعه ده.
پروست د انسان داخلي نړۍ ته ډېر ژور ځي او ښيي چې تېر وخت څنګه د حافظې له لارې بېرته راژوندی کېږي. له همدې امله د هغه اثر له ریالیزم سره اړیکه لري، خو په عین وخت کې د مدرنیستي او رواني داستان د پراختیا لپاره هم ډېر مهم دی.

**مسعود:** ویل شوې دي: چې (۱۸۵۰-۱۸۹۰)زدیږ کال د لوېدیزې اروپا په ادبیاتو کې د رومان لیکنې، ودې او پرمختیا پېر بلل شوی دی، چې د څومره والي او څرنګوالي له اړخه ځانګړی اهمیت او ارزښت لري. ښه به وي که په ټوله کې د دې دوران د نوموتو لیکوالو او د دوی د ګټورو او اغېزمنو رومانونو په تړاو لنډ مالومات ورکړ شي.

**سحر:** دا دوره د اروپایي رومان لپاره له خورا مهمو پړاوونو څخه ده. په دې وخت کې د فرانسې فلوبر، بالزاک او ستاندال، د انګلستان ډیکنز او جورج الیوت، او په نورو هېوادونو کې ګڼو لیکوالو د رومان هنري امکانات پراخ کړل.
رومان په دې دوره کې د ټولنې د پراخو بدلونونو د بیان مهمه وسیله شو. ښار، طبقه، کورنۍ، اقتصاد، سیاست، مینه او رواني ژوند ټول د رومان موضوعات شول. له همدې امله د دې دورې رومان د معاصر داستاني ادب لپاره یو مهم بنسټ جوړوي.

**مسعود:** ویل کېږي: د ریالیزم لومړنۍ ناندرۍ د ادبیاتو په ډګر کې نه، بلکې د انځورګرۍ په ډګر کې د فرانسې ریالیستیک انځورګر او پېژانده سرلاري ګوستاو کوربه (۱۸۱۹-۱۸۷۷) راپیل کړ. ستاسو په اند د نوموړي نوښتګري په څه کې وه،

که يې پر مهمو اړخونو هر اړخيز مالومات ورکړ شي ښه به وي. په لنډه توګه د دې هنرمند د مهمو او نامتو نښيرونو(اثارو) په اړه خپل مالومات هم راسره شريک کړئ.

**سحر:** د کوربه نوښت په دې کې و چې د هنر موضوع يې د اشرافو او اساطيري اتلانو له نړۍ څخه د عادي خلکو ژوند ته رابښکته کړه. هغه د خپل وخت کارګر، بزګر او عام انسان د هنري تصوير وړ وباله.
د ډېرو ماتونکي، د اورنان ښخېدنه او هنرمند ستوډيو د هغه له مهمو اثارو څخه دي. د هغه هنر دا پيغام لري چې واقعيت که هر څومره عادي هم وي، د هنر له پلوه بې‌ارزښته نه دی.

**مسعود:** په روسيه کې رياليسم په درې ډوله ويشل شوی دی: لومړی رياليسم چې له اکتوبر انقلاب څخه مخکې تړاو لري او بل انتقادي او دريم سوسياليستي رياليسم چې له اکتوبر انقلاب وروسته د شوروي اتحاد له دورې سره تړاو لري. مهرباني وکړئ د دغو درې ډوله رياليسم په اړه د پېژندل شويو ليکوالو د ليد توګو، عقايدو او اندونو په تړاو او د هغوی د نامتو، معتبرو او باوري اثارو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** د روسي رياليزم تاريخ بايد د يوې ساده درې‌ګونو پړاونو په توګه ونه کتل شي، خو د مطالعې لپاره دا وېش ګټور دی. د نولسمې پېړۍ روسي رياليزم د ټولنيز او رواني ژوند ژوره مطالعه وکړه. تولستوی، داستايفسکي، تورګنيف، ګوګول او چيخوف د دې پړاخې مرحلې مهم نومونه دي.
انتقادي رياليزم د ټولنې تضادونه، فقر، اداري فساد، طبقاتي توپيرونه او انساني ستونزې رابرسېره کوي. سوسياليستي رياليزم بيا د پخواني شوروي اتحاد په وخت کې د رسمي ادبي تګلارې بڼه غوره کړه او د کارګر، ټولنيز بدلون او د نوي ټولنيز

انسان د جوړېدو موضوعاتو ته یې ځانګړی ارزښت ورکړ.

**مسعود:** بوریس ساچکوف (پر ۱۹۱۷ زیږدیز کال کې زېږېدلی او پر ۱۹۷۴ز کال کې مړ شوی دی )، روسي لیکوال وو. همداسې اناتول فرانس چې (پر ۱۸۴۴ز کال کې زېږېدلی او پر ۱۹۲۴ز کال کې مړ شوی) فرانسوی لیکوال، شاعر او کره کتونکی وو. بوریس ساچکوف د اناتول فرانس د ریالیستیکو عقایدو، اندونو او لید توګو په تړاو څه لید درلود؟

**سحر:** اناتول فرانس د طنزي، انتقادي او شکمن فکر له لارې د خپلې ټولنې ګڼ تضادونه راڅرګند کړل. د هغه ریالیزم یوازې ساده واقعیت‌انځورونه نه ده، بلکې هغه د انسان د عقل، ټولنې، اخلاقو او تاریخي باورونو په اړه هم پوښتنې مطرح کوي.
د ساچکوف په څېر د شوروي دورې ځینو منتقدانو د فرانس د ادب په ارزونه کې د هغه ټولنیز او انتقادي اړخ ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. زما په اند، د اناتول فرانس د ارزښت لپاره باید د هغه طنز، شک، فکري آزادي او ټولنیز نقد ټول یوځای وکتل شي.

**مسعود:** بوریس ساچکوف، ماکسیم ګورکي د سوسیالیستي ریالیسم د غوره بېلګې په توګه معرفي کوي او په ورته وخت کې شاعران او لیکوال لکه: فرانسوي شاعر اراګون، فرانسوي شاعر پل الوار، فرانسوي رومان لیکونکی او د لنډه کیسو او داستانونو لیکونکی پراتولیني، ډیپلومات پابلو نرودا، د چیلي هیواد سناتور، شاعر او په ادبیاتو کې د نوبل جایزې ګټونکی. ساچکوف دا لیکوال په لویدیځ کې د سوسیالیستي ریالیسم په کتار کې شمېري. تاسو د بوریس ساچکوف د دې لید په اړه څنګه اندئ؟

**سحر:** دلته باید د سوسیالیستي ریالیزم او ټولنیز یا چپ‌تمایل لرونکي ادب ترمنځ توپیر وساتل شي. ماکسیم ګورکي د سوسیالیستي ریالیزم له مهمو مخکښو نومونو څخه دی او د شوروي ادبي دود په جوړېدو کې یې ستر رول درلود.
خو اراګون، پل الوار، پابلو نرودا او نورو لیکوالو ته د سوسیالیستي ریالیزم د یوه واحد ادبي مکتب غړیتوب ورکول له علمي پلوه یو څه سرسري ښکاري. هغوی له چپ‌فکري او ټولنیز عدالت سره ژورې اړیکې لرلې، خو د هر یوه ادبي سبک او هنري نړۍ ځانګړې ده. ادبي طبقه‌بندي باید د لیکوال د سیاسي تمایل تر څنګ د هغه د هنري متن پر بنسټ هم وشي.

**مسعود:** انتون چیخوف (۱۹۰۴-۱۸۶۰) په ادبیاتو کې د ریالیزم له مخکښو لیکوالو څخه دی. هغه په نولسمه پېړۍ کې د روسیې نامتو داستان او کیسه لیکونکی، ډرامه لیکونکی او پیاوړی لیکوال وو. چیخوف تر خپل مرګ مخکي تر (۷۰۰) زیات ادبي او هنري نښیرونه(اثار)لیکلې دي چي په ادبیاتو کي د هغه د قلم، وړتیا او استعداد څرګندونه کوي. په لنډه توګه د چیخوف د عقایدو، اندونو، لید توګو او د ده د لیکلو د سبک د مهمو ځانګړتیاوو او د هغه د ډیرو نامتو نښیرونو(اثارو)په اړه معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** چیخوف د لنډې کیسې او ډرامې له لویو استادانو څخه دی. د هغه په اثارو کې د ورځني ژوند عادي پېښې د انسان د ژورې رواني او ټولنیزې تجربې په بیان بدلېږي.
هغه ډېر ځله مستقیمه پایله نه اعلانوي، لوستونکی پرېږدي چې د شخصیتونو له کړنو، چوپتیا او خبرو څخه خپله معنا واخلي. (د شګې باغ)، (درې خویندې)، (مرغه) او د هغه ګڼې لنډې کیسې د دې سبک ښه مثالونه دي. د چیخوف ریالیزم نرم، انساني او رواني دی.

**مسعود:** لیُو نیکلایویچ تولستوی (۱۸۲۸-۱۹۱۰) یو فیلسوف، عارف او د روسیې تر ټولو غوره لیکوال وو، چې د نړۍ یو له اغېزمنو لیکوالو او سترو رومان لیکونکو څخه شمیرل کیږي. هغه څو ځله د نوبل د ادبیاتو جایزې او د نوبل د سولې جایزه ته ونومول شو خو هغوی یې هیڅکله ترلاسه نه کړل. دوه رمانونه "جنگ او سوله" او "آناکارنینا" د دې مشهور کیسه لیکونکي له ابدي شاهکارونو څخه دي. تولستوی زیاتره په تاریخ کې د ریالیسم د سبک یو له غوره لیکوالو څخه پیژندل کیږي. په لنډه توگه د تولستوی د عقایدو، اندونو، فلسفي لید توگي، او د ده د لیکنو د ځانگړي سبک او پېژاندو نښیرونو(اثارو) په اړه مالومات وړاندې کړئ.

**سحر:** تولستوی د انسان او ټولنې د اړیکو یو ستر ادبي څېړونکی دی. د هغه یو مهم اثر (جگړه او سوله) د تاریخ، جگړې، کورنۍ او فرد د برخلیک پراخ تصویر وړاندې کوي، او (آنا کارنینا) د مینې، کورنۍ، ټولنیزو دودونو او اخلاقي انتخابونو ژوره مطالعه ده.
د تولستوی په وروستیو اثارو کې فلسفي او اخلاقي پوښتنې لا پیاوړې کېږي. د هغه هنر په دې کې دی چې لویې فلسفي مسئلې د عادي انسانانو د ژوند له لارې بیانوي. د همدې لپاره د هغه ریالیزم هم ټولنیز دی او هم رواني او فلسفي ژورتیا لري.

**مسعود:** داستایفسکي (۱۸۸۱-۱۸۲۱) د روسیې او نړۍ د ادبیاتو یو له نامتو او اغېزناکو لیکوالو څخه دی او د پایښت لرونکو نښیرونو(اثارو) لیکونکی دی لکه: «جنایت او ډالۍ »، «احمق یا ابله»، «د کارمازوف وروڼه» او نور... په ځانگړي توگه د داستایفسکي په لیکونو کې کوم ارزښتونه نغښتي چې د نښیرونو(اثارو) لوستلو ته یې په نړېواله کچه لېوالتیا ښودل کېږي. په لنډه توگه د داستایفسکي د

لیکلنو د سبک د مهمو ځانګړتیاوو او د هغه د ډیرو نامتو نښیرونو (اثارو) او په تېره بیا د دغو یاد شویو نښیرونو په اړه خپل مالومات راسره شریک کړئ.

**سحر:** داستایفسکي د انسان د داخلي نړۍ، وجدان، ګناه، آزادۍ، ایمان، شک او اخلاقي انتخابونو له سترو ادبي څېړونکو څخه دی. د هغه شخصیتونه له سختو روحي او فکري بحرانونو سره مخ وي.
(جنایت او سزا) چې زموږ په ادبي کړیو کې د ایرانی ترجمې له خاطره (جنایت و مکافات) په نوم مشهور شوی دی د جرم، وجدان او اخلاقي مسؤولیت موضوع څېړي؛ (احمق) د معصومیت او ټولنې ترمنځ اړیکه رااخلي او (د کارامازوف وروڼه) د کورنۍ، ایمان، شک، اخلاقو او آزادۍ په اړه ژورې پوښتنې مطرح کوي. د هغه ریالیزم یوازې بهرنی واقعیت نه انځوروي؛ د انسان د روح دننه نړۍ هم واقعیت ګڼي.

مسعود: نیکلای ګوګل (۱۸۰۹ـ۱۸۵۲) د نولسمې او شلمې پیړۍ د روسیې د ادبیاتو یو له نامتو لیکوالو، داستان او کیسه لیکونکو او رومان لیکونکو څخه دی. هغه په روسي ادبیاتو کې د ریالیسم د ښونځی بنسټ کېښود. ښه به وي که د نیکلای ګوګل د لید توګي، عقایدو او اندونو په تړاو او د هغه د نامتو، باوري نښیرونو(اثارو) په اړه لنډ معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** ګوګول د روسي داستاني ادب له مهمو بنسټیزو څېرو څخه دی. هغه د طنز، واقعیت او ځینو وختونو کې د خیال په ګډولو سره د خپلې زمانې اداري او ټولنیز ژوند ته انتقادي نظر کړی دی.
د مړو روحونه، شنل او د حکومت مفتش یې له مهمو اثارو څخه دي. په ځانګړې توګه شنل د عادي او بې‌وسه انسان د ژوند د انځور له امله ډېر اغېزمن اثر دی.

ګوګول وروسته پر روسي داستان‌لیکنه ژور اغېز وکړ.

**مسعود:** ماکسیم ګورکي (۱۹۳۶-۱۸۶۸) د روسیې یو نامتو او پېژند شوی لیکوال او سیاسي فعال وو. هغه پنځه ځله د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې لپاره نومول شوی وو. نوموړی د "سوسیالیستي ریالیسم" د ادبي سبک له بنسټ ایښودونکو له ډلو څخه دی. نوموړی ډېر نامتو نښیرونه(اثار) لري. د (مور) په نوم کتاب د هغه یو له غوره او نوموتو نښیرونو (اثارو) څخه دی. تاسو د ماکسیم ګورکي د عقایدو، اندونو، لید توګو، او د ده د لیکلنو د سبک د مهمو ځانګړتیاوو او د هغه د ډېرو نامتو نښیرونو(اثارو) په اړه څنګه اندئ؟

**سحر:** ګورکي د بېوزلو، کارګرانو او ټولنیز محرومیت د تجربو په بیان کې ځانګړی ځای لري. هغه د عادي او محروم انسان ژوند د ادبي موضوع په توګه جدي مطرح کړ.
(مور) د هغه له مشهورو اثارو څخه دی او د ټولنیز او انقلابي بدلون موضوع پکې مهمه ده. د ګورکي په لیکنو کې د انسان د کرامت، مبارزې او بدلون هیله لیدل کېږي. هغه د سوسیالیستي ریالیزم د راتلونکي رسمي شکل له رامنځته کېدو مخکې هم د هغه د ځینو فکري او هنري تمایلاتو مهمه زمینه برابره کړې وه.

**مسعود:** د ریالیسم ښونځی د داستانونو او رومانونو مکتب دی، د پیړیو په اوږدو کې له هغه وخته چې د ریالیزم ښوونځی پیدا شوې ده، بیلابیلې څانګې یې له هغه څخه جلا شوې دي، لکه: ټولنیز ریالیسم، کره ییز(انتقادي) ریالیسم، جادویي ریالیسم، نوی ریالیسم، د اروایوهنیز ریالیسم، نمادین یا سمبولیک ریالیسم او داسي نور یادولای شو. تاسو د دې څانګو په تړاو څه لید لرئ او د راټوکېدو او جلا کېدو لامل، دک و دلیل په څه کې وینئ؟

**سحر:** محترم مسعود صاحب دا اصطلاحات د ریالیزم د پراخ مفهوم بېلابېلې لارې او یا له ریالیزم سره تړلي ادبي تمایلات بیانوي. ټولنیز ریالیزم پر ټولنیز جوړښت او ستونزو تمرکز کوي، انتقادي ریالیزم د ټولنې تضادونه او نیمګړتیاوې رابرسېره کوي، ارواپوهنیز ریالیزم د شخصیت داخلي نړۍ ته ډېره توجه کوي.
جادویي ریالیزم بیا واقعي ټولنیز چاپېریال له فوق‌العاده او خیالي عناصرو سره داسې ګډوي چې جادویي پېښې د روایت په نړۍ کې طبیعي ښکاري. نوی ریالیزم د شلمې پېړۍ د نوو ټولنیزو او هنري تجربو په رڼا کې د واقعیت د وړاندې کولو نوې لارې رامنځته کوي. سمبولیک ریالیزم بیا د واقعي صحنو ترڅنګ له سمبولونو څخه د ژورو معناوو لپاره کار اخلي.

**مسعود:** تاسو ټولنیز ریالیزم او انتقادي ریالیزم څنګه ارزوئ؟ تر ټولو نامتو او پېژاند ټولنیز ریالیستیک او انتقادي لیکوال څوک ول؟ په لنډه توګه د دوی د لید توګې، عقایدو او اندونو او معتبرو او ارزښتمنو نښیرونو(آثارو) په اړه خپل مالومات راسره شریک کړئ.

**سحر:** ټولنیز ریالیزم د ټولنې، طبقو، کار، فقر، بې‌عدالتۍ او ټولنیزو اړیکو په اړه تمرکز کوي. انتقادي ریالیزم بیا یوازې ټولنیز واقعیت نه ثبتوي، بلکې د هغه تضادونه او ستونزې هم تر نقد لاندې راولي.
بالزاک، ډیکنز، جورج الیوت، تولستوی او ګڼ نور لیکوال د انتقادي ریالیزم له پراخو بېلګو سره تړاو لري، که څه هم هر یو یې په یوه واحد تعریف کې نه محدودېږي. د دې ادب ارزښت په دې کې دی چې لوستونکي ته د ټولنې د جوړښت تر شا پټې ستونزې ورښیي.

**مسعود:** ویل کېږي: « **بیوزلان یا بینوایان** » هغه نامتو حماسي او تاریخي داستان دی، چې دا نبنیر(اثر) ویکتور هوګو لیکلی دی او د (۱۹)پیړۍ یو له سترو رومانونو څخه شمېرل کېږي. تاسو دا اثر د ټولنیز ریالیسم او انتقادي ریالیسم د تګلوري او سبک په رڼا کې څنګه ارزوئ؟

**سحر:** بینوایان د نولسمې پېړۍ له مهمو رومانونو څخه دی او د بېوزلۍ، قانون، عدالت، ټولنیز محرومیت، جرم، رحمت او انساني کرامت پراخ بحث وړاندې کوي. خو دا اثر باید یوازې د ریالیزم په یوه چوکاټ کې محدود نه شي. په دې کې رومانتیک، تاریخي، فلسفي او حماسي عناصر هم ډېر دي. د اثر ریالیستي ارزښت په دې کې دی چې د فرانسې د ټولنې د محرومو طبقو ژوند په پیاوړي انساني او انتقادي لید انځوروي.

**مسعود:** انتقادي ریالیزم چې نسبتاً نوی فلسفي لیدلوری لري، د لومړي ځل لپاره د یوه انګلیسي فیلسوف، (رام روی باسکار چې پر ۱۹۴۴ز کال کې زېږېدلی او پر ۲۰۱٤ز کال کې مړ شوی دی) له خوا، د دغې فلسفي خوځښت او انتقادي ریالیسم بنسټ ایښودل شوی دی. تاسو د انتقادي ریالیسم تګلوری او سبک، منځپانګې، لیدلوري، ځانګړنې او مهمې ځانګړتیاوې څنګه ارزوئ؟ د باسکار د اندونو او عقایدو او د هغه د ډېرو نوموتو نبنیرونو(آثارو) په اړه په لنډه توګه مالومات وړاندې کړئ.

**سحر:** دلته د دوو بېلابېلو مفاهیمو توپیر ډېر مهم دی. د نولسمې پېړۍ انتقادي ریالیزم یو ادبي مفهوم دی، خو روی باسکار انتقادي ریالیزم د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د فلسفې او ټولنیزو علومو په برخه کې مطرح کړ.
باسکار هڅه کوي چې د واقعیت تر ظاهري بڼې لاندې ژور جوړښتونه، علتونه او میکانیزمونه وپېژني. د هغه فلسفه موږ دې ته متوجه کوي چې واقعیت یوازې هغه

څه نه دی چې سمدستي یې مشاهده کوو، تر مشاهدې لاندې ژور علتونه او جوړښتونه هم شته.

**مسعود:** هربرټ اسپنسر (زیږیدنه۱۸۲۰ - مړینه ۱۹۰۳)، انګلیسي فیلسوف، فریدریش انګلس (زیږیدنه ۱۸۲۰- مړینه ۱۸۹۵) آلماني فیلسوف، کارل مارکس (زیږیدنه ۱۸۱۸- مړینه ۱۸۸۳) الماني فیلسوف، جان سټوارټ میل (زیږیدنه ۱۸۰۶ -مړینه ۱۸۷۳) برتانوي فیلسوف، دا ټول د ریالیسم د پېړۍ ستر متفکرین او پوهان ول او د دوی علمي هڅې هاندې، کارنامې، اندونه او فکرونه ربښتیني او ریالیستیک دي. د ریالیسم اصطلاح د فلسفي افکارو له ډګره د ادبي شننې او د کره کتنې نړۍ ته یا په بله مانا ادبي نړۍ ته ورننوتل دي. تاسو د دغو نامتو لیکوالو د علمي، فلسفي لیدلورو، لیکنو او معتبرو ننبیرونو(آثارو) په تړاو څه اند لرئ؟

**سحر:** د دغو متفکرینو هر یو د نولسمې پېړۍ په فکري فضا کې مهم رول لري، خو ټول باید په مستقیمه توګه د ریالیزم د ادبي مکتب فیلسوفان ونه ګڼل شي. اسپنسر د ټولنیز تکامل او فلسفي سیستمونو په اړه لیکلي، مارکس او انګلس د اقتصاد، تاریخ، ټولنې او طبقو د اړیکو په تحلیل کې ژور اغېز پرېښود، جان سټوارټ میل بیا د منطق، اخلاقو، سیاست او آزادۍ په اړه مهم آثار لري.
د دوی افکارو د نولسمې پېړۍ پر فکري چاپېریال اغېز وکړ، او دا چاپېریال په ادبیاتو کې هم محسوس شو. خو ادبي ریالیزم یوازې د یوې فلسفې مستقیمه پایله نه ده، هغه د څو فکري او ټولنیزو جریانونو ګډ محصول دی.

**مسعود:** اګوسټ کنټ (زیږیدنه ۱۷۹۸- مړینه ۱۸۵۷) یو فرانسوی ټولنپوه او فیلسوف، چارلس رابرټ ډاروین (زیږیدنه ۱۸۰۹ - مړینه ۱۸۸۲) یو انګلیسي بیولوژیست او جیولوژیست، او کلوډبر نارډ (زیږیدنه ۱۸۱۳ – مړینه ۱۸۷۸) فرانسوی

ډاکټر او فزیولوژیست. دا ټول د ریالسم د پېرۍ ستر متفکرین او پوهان ول، او د دوی پر ځای پاتې علمي هڅې، اندونه، سبک او تګلوري یې ربښتیني او ریالیستیک بڼه لري. مهرباني وکړئ د دغو سترو او نامتو لیکوالو د عقایدو، لید لورو او اندونو او باوري نښیرونو(آثارو) په اړه لنډ مالومات راکړئ؟

**سحر:** معلومات ښیي چې اوګست کنت د اثبات‌پالنې یا پوزیټیویزم له مهمو بنسټګرو څخه و او د مشاهدې او علمي پوهې پر اهمیت یې ټینګار کاوه. ډاروین د طبیعي انتخاب او تکامل نظریې له لارې د انسان او طبیعت په اړه د نولسمې پېړۍ تصور بدل کړ. کلود برنارډ د تجربوي طب او فزیولوژۍ په برخه کې د علمي تجربې اهمیت پیاوړی کړ.
دوی ادبي لیکوالان نه وو، خو د دوی علمي او فلسفي فضا د نولسمې پېړۍ پر عمومي فکر اغېز وکړ. ادبیاتو هم له همدې چاپېریاله د مشاهده، علت، چاپېریال او انساني چلند په اړه ځینې نوې پوښتنې واخیستې.

**مسعود:** ارتور شوپنهاور (زیږیدنه ۱۷۸۸ - مړینه ۱۸۶۰) الماني فیلسوف، او د اخلاقو، هنر، معاصر ادب او نوې ارواپوهنې په برخه کې د اروپا له سترو فیلسوفانو او د تاریخ تر ټولو اغېزناک فیلسوف دی. مهرباني وکړئ د هغه د اندونو، عقایدو، لیدلورو او د هغه د نامتو او پېژندل شوو نښیرونو (اثارو) د سکالو، منځپانګې او پیغامونو په اړه خپل معلومات راسره شریک کړئ.

**سحر:** شوپنهاور د انساني ارادې، غوښتنې، رنځ او د ژوند د معنا په اړه ژور او تر ډېره بدبینانه فلسفي لید لري. د هغه په اند انساني غوښتنې ډېر ځله د نارضایتۍ او رنځ سرچینه ګرځي، او هنر کولای شي انسان د غوښتنې له دې فشار څخه د لنډ وخت لپاره آزاد کړي.

(نړۍ د ارادې او تصور په توګه) د هغه تر ټولو مشهور فلسفي اثر دی. د شوپنهاور فکر پر وروسته ادبیاتو، فلسفې او رواڼپېژندنې اغېز وکړ او په ځانګړې توګه یې د انسان د داخلي نړۍ د ادبي مطالعې لپاره فکري زمینه برابره کړه.

**مسعود:** فریدریش ویلهم نیچه (زیږیدنه ۱۸٤٤-مړینه ۱۹۰۰)، الماني شاعر، لیکوال، کره کتونکی، ژبپوه، موسیقي پوه او کلاسیک الماني فیلسوف، د لاتیني او یوناني ژبو پروفیسور وو، چې نښیرونه(اثار) یې په لویدیزه فلسفه او د نویو اندونو په تاریخ کې ژورې اغیزې پریښي دي. تاسو د نوموتي اندونه، عقاید، لیدلوري او د هغه د نامتو او پېژندل شوو نښیرونو(اثارو) د سکالو، منځپانګې او پیغامونو ارزښت او اغېز څنګه ارزوئ؟

**سحر:** نیچه د لوېدیځې فلسفې له هغو متفکرینو څخه دی چې پر اخلاقو، دین، ارزښتونو، ځواک، فردیت او د انسان پر ځانجوړونه یې ژورې پوښتنې مطرح کړې. د هغه سبک هم ځانګړی دی، فلسفي مفاهیم یې په ادبي ژبه او تمثیلي بیان کې وړاندې کړي دي.

د زرتشت وینا، د خیر او شر هاخوا او  د اخلاقو نسب‌نامه یې مشهور آثار دي. د نیچه فکر ساده او یو اړخیز نه دی، د هغه نظریاتو وروسته پر ادبیاتو او فلسفې پراخ اغېز وکړ.

**مسعود:** تاسو جادویی ریالیزم څنګه راپېژنئ؟ د جادویي ریالیزم سبک، تګلوری، سکالو او منځپانګې، ځانګړنې او تر ټولو مهمې او اړینې ځانګړتیاوې څنګه ارزوئ؟

**سحر:** جادويي ریالیزم هغه ادبي طرز دی چې واقعي ټولنیز او تاریخي ژوند له غیرعادي، جادويي یا فوق‌العاده پېښو سره یوځای کوي، خو د روایت کرکټرونه دغه پېښې ډېر ځله د یوې عادي واقعې په توګه مني.

د دې سبک مهمه ځانګړنه دا ده چې د خیال او واقعیت ترمنځ روښانه دیوال ماتوي. په جادویي ریالیزم کې جادو د واقعي نړۍ بدیل نه وي، بلکې د هغې د ژورو فرهنګي، تاریخي او رواني حقیقتونو د بیان یوه وسیله وي. له همدې امله د لاتیني امریکا تاریخ، ولسي باورونه، استعمار، تاوتریخوالی او حافظه پکې ځانګړې ځای لري.

**مسعود:** ویل شوې دي: د جادویي ریالیزم تر ټولو بنسټیزه ځانګړنه «د خیال او حقیقت» تر منځ د پولې ماتول دي. په دې اړه ستاسو لید څه دی؟ او دا راته وویاست د جادویي ریالیزم په ادبیاتو کې د کومو نوموتو لیکوالو، د پېژندل شوو، مهمو، اغېزناکو او ارزښتناکو نښیرونو(آثارو) یادونه اړینه او د پام وړ ده.

**سحر:** دا خبره تر ډېره سمه ده، خو د جادویي ریالیزم ځانګړنه یوازې د خیال او حقیقت ګډول نه دي. مهمه خبره دا ده چې فوق‌العاده پېښه په داسې واقعي او عادي ژبه وړاندې شي چې د روایت د نړۍ طبیعي برخه ښکاره شي.
ګابریل ګارسیا مارکز، الېخو کارپنتیر، ایزابل الینده، خوان رولفو او ځینې نور د دې تمایل مهم نومونه دي. تاسې پوهېږئ د مارکز (سل کاله یوازیتوب) د دې سبک له تر ټولو مشهور اثارو څخه دی. په دې ډول ادب کې تاریخ، حافظه، افسانه او ټولنیز واقعیت یو له بل سره نښلي.

**مسعود:** ویل کېږي: ګابریل ګارسیا مارکز (۱۹۲۷زیږیدنه- مړینه ۲۰۱٤) د کولمبیا نامتو لیکوال، رمان لیکونکی، ژورنالیست، خپرونکی او سیاسي فعال وو، چې په (۱۹۸۲) زیږدیز کال کې یې د ادبیاتو په برخه کې، د نوبل جایزه وګټله. هغه د جادویي ریالیزم د ادبي سبک یو له مخکښو لیکوالو څخه وو، چې نوموتي نښیرونه(اثار) یې پنځولې دي لکه: "سل کاله یوازیتوب "، "پلار واکی منی یا

پلارواکی پانړيژ"، "د وبا په وخت کې مینه"، "ناوړه ساعت" او نور... مهرباني وکړئ د هغه د عقایدو، اندونو، لیدتوګي او نامتو نښیرونو(اثارو) په تېره بیا یاد شویو نښیرونو په اړوند لنډ معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** مارکز د لاتیني امریکا د تاریخ، سیاست، کورنۍ، مینې، تاوتریخوالي او ټولنیزې حافظې د بیان لپاره جادویي ریالیزم په ډېر پیاوړي ډول وکاراوه. هغه په ۱۹۸۲ کال کې د ادبیاتو نوبل جایزه ترلاسه کړه.
لکه چې دمخه مو وویل (سل کاله یوازیتوب) یې تر ټولو مشهور اثر دی او د بوئندیا کورنۍ او د ماکونډو د خیالي ښار له لارې د تاریخ، حافظې او تکرار موضوعات څېړي. (د وبا په وخت کې مینه)، (د یوې وژنې د اعلان تاریخ) او (ناوړه ساعت) هم د هغه مهم آثار دي. د مارکز لویه ځانګړنه دا ده چې افسانوي او جادویي پېښې یې له تاریخي او ټولنیز واقعیت سره داسې ګډې کړي چې دواړه یو بل ته معنا ورکوي.

**مسعود:** تاسو نوی ریالیسم څنګه راپېژنئ او ارزوئ؟ د دې ریالیزم تر ټولو نامتو نښیرونه(اثار)او پېژندل شوي لیکوال څوک دي؟

**سحر:** نوی ریالیزم د واقعیت د بیان یوه داسې نوې هڅه ده چې د شلمې پېړۍ د جګړو، اقتصادي بحرانونو، ښاري ژوند، فردي یوازیتوب او ټولنیزو بدلونونو له تجربو سره تړاو لري. دا د کلاسیک ریالیزم ساده تکرار نه دی، بلکې د واقعیت د وړاندې کولو نوې هنري لارې کاروي.
هیمنګوی، جان اشتاین‌بک او ویلیام فاکنر د شلمې پېړۍ د امریکایي داستان په هغه پراخ ریالیستي تحول کې مهم نومونه دي چې د نوي ریالیزم له بحث سره تړاو

موندلی شي. خو هر یو یې ځانګړی سبک لري او باید په یوه واحد قالب کې محدود نه شي.

**مسعود:** د نوي ریالیزم د نامتو لیکوالو په منځ کې د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې ګټونکی، ارنسټ هیمنګوی(زیږیدنه ۱۸۹۹ - مړینه ۱۹۶۱) رومان لیکونکی، ژورنالیست، او د امریکا یو له مخکښنو معاصر لیکوالو څخه وو. جان اسټاین بک ( زیږیدنه ۱۹۰۲ – مړینه ۱۹۶۸) د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې ګټونکی او د شلمې پیړۍ یو له خورا نامتو لیکوالو څخه وو، ویلیام فاکنر (زیږیدنه ۱۸۹۷ - مړینه ۱۹۶۲) امریکایي رومان لیکونکی او د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې ګټونکی او هرمان ملویل (زیږیدنه ۱۸۱۹ - مړینه ۱۸۹۱ ) امریکایي لیکوال، شاعر، رومان لیکونکی او د لنډو کیسو او داستانونو لیکونکی دی. په لنډه توګه د دغو لیکوالو د عقایدو، لید توګو، اندونو او نامتو نښیرونو (اثارو) په اړه معلومات وړاندې کړئ.

**سحر:** هیمنګوی د لنډې او فشرده ژبې، جګړې او فردي مقاومت له لارې د شلمې پیړۍ د انسان واقعیت انځور کړ. اشتاین‌بک د بېوزلۍ، کارګرانو او اقتصادي فشارونو تصویر وړاندې کړ. فاکنر بیا د امریکا د جنوب ټولنیز تاریخ، کورنۍ، نژادي اړیکو، حافظې او انساني شعور ته ژور لاړ.
هرمان ملویل بیا د نولسمې پیړۍ لیکوال دی او د شلمې پیړۍ د نوي ریالیزم په مستقیمه مانا کې نه راځي. (موبی ډیک) یې له ریالیزم سره یوځای سمبولیک، فلسفي او ماجراجویانه اړخونه هم لري. له همدې امله د هغه طبقه‌بندي باید په احتیاط وشي.

**مسعود:** تاسو ارواپوهنیز ریالیسم څنګه راپېژنئ؟ د دې ریالیزم تر ټولو نامتو نښیرونه(اثار) او پېژندل شوي لیکوال څوک دي؟

**سحر:** ارواپوهنيز رياليزم د انسان د داخلي نړۍ، احساساتو، فکرونو، حافظې، وجدان، وېرې، غوښتنو او اخلاقي شخړو هنري انځورولو ته ځانګړې اهميت ورکوي. په دې ډول ادب کې د شخصيت دننه نړۍ د بهرني عمل په اندازه مهمه وي.
داستايفسکي، تولستوی، هنري جيمز، جورج اليوت او وروسته پروست د دې تمايل له مهمو نومونو څخه دي. د داستايفسکي «جنايت او سزا»، «د کارامازوف ورونه» او د هنري جيمز ځينې رومانونه د انسان د رواني نړۍ د ژورې مطالعې مثالونه دي.

**مسعود:** ويل شوې دي: د فيودور داستايوفسکي د رياليستي اروا‌پوهنې نښيرونه (اثار) لکه: (روښانه شپې، جنايت او ډالۍ، احمق يا آبله، جوارګر او نور ...) ترټولو غوره او نوموتي دي. کومې ځانګړنې او منځپانګې يې په نړېواله کچه د پېژندګلوۍ لامل شوې دي.

**سحر:** د داستايفسکي د ناولونو کرکترونه ساده سرسري او يو اړخيز نه دي. هغوی په خپل ذهن کې له جرم، وجدان، ايمان، شک، مينې، وېرې او آزادۍ سره جګړه کوي. له همدې امله لوستونکی د يوه کرکټر له بهرني عمل څخه تر هغه د داخلي نړۍ پورې سفر کوي.
(روښانه شپې)، (جنايت او سزا)، (احمق)، (قمارباز) او (د کارامازوف ورونه) د هغه د رواني او فلسفي هنر مهم مثالونه دي. د هغه لويه وړتيا دا ده چې فلسفي پوښتنې يې د ژوندي شخصيتونو په کړنو او رواني بحرانونو کې راڅرګندې کړې دي.

**مسعود:** تاسو د رياليسم او ايدياليسم ځانګړتياوې او توپير، د فلسفي عقايدو، موخې او  اندونو په رڼا کې څه ډول ارزوئ؟

**سحر:** ریالیزم په عمومي ډول پر موجود واقعیت، تجربه، مشاهده او د نړۍ پر عیني جوړښت ټینګار کوي. ایډیالیزم بیا د ذهن، فکر، تصور یا معنوي واقعیت رول ته ډېر اهمیت ورکوي. خو په ادبیاتو کې دا توپیر باید ډېر ساده نه شي.
یو ریالیست اثر هم ارزښتونه او ایډیالونه لرلای شي، او یو ایډیالیست اثر هم د واقعي ژوند ژور تصویر وړاندې کولای شي. مهمه خبره دا ده چې لیکوال واقعیت او خیال، بهرنی ژوند او داخلي نړۍ څنګه سره تنظیموي او په هنري اثر کې یې څه ډول معنا ورکوي.

**مسعود:** ویل کېږي: ارسطو، جان لاک، هربارټ اسپنسر، راسل، ډاروین او همداسې ګڼ شمیر نور... د ریالیزم د مکتب له نامتو فیلسوفانو څخه دي. تاسو د دې پېژندل شوو لیکوالو د عقایدو، لید توګو، اندونو او د دوی د ارزښتناکو او ګټورو ښنیرونو(آثارو) په اړه څه لید لرئ؟

**سحر:** د دې متفکرینو فکري میراثونه تر ډېره حده یو له بله سره لیرې او متفاوت دي او ټول په مستقیمه توګه د ریالیزم فیلسوفان نه شو بللای. ارسطو د طبیعت، تقلید، علت او هنر په اړه مهم بحثونه کړي، جان لاک د تجربې او انساني پوهې په اړه خپل نظریات وړاندې کړي دي، اسپنسر د تکامل او ټولنیز جوړښت په اړه لیکلي، راسل د منطق او فلسفې په برخه کې مهم کار کړی او ډاروین د تکامل نظریې له لارې د ژوند د طبیعي تاریخ تصور بدل کړ.
د دوی ګډ اهمیت دا دی چې د انسان، پوهې، طبیعت او واقعیت په اړه یې د لوېدیځ فکري تاریخ پر بهیر اغېز کړی. خو ادبي ریالیزم د دوی د افکارو مستقیمه او واحده پایله نه شو بللی.

**مسعود:** تاسو د ریالیسم او رومانتیزم د مکتب ترمنځ اړیکې، توپیرونه او پر ټولنیز، سیاسي او وټه ییز(اقتصادي) چاپېریال یې اغېز څنګه ارزوئ؟

**سحر:** رومانتیزم د احساس، تخیل، فردیت، طبیعت او آزادۍ روحیې پر ارزښت ټینګار کوي، په داسې حال کې چې ریالیزم د ورځني ژوند، ټولنیزو شرایطو، مشاهده او عیني واقعیت انځورولو ته ډېره پاملرنه کوي.
خو ریالیزم په بشپړه توګه د رومانتیزم ضد نه دی. ریالیست لیکوالان هم احساس او تخیل کاروي، فرق دا دی چې تخیل یې د واقعي ژوند له جوړښت سره ډېر تړلی وي. دواړه مکتبونه د خپلو زمانو له سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو سره ژوره اړیکه لري.

**مسعود:** تاسو د ریالیسم، ناتورالیسم او سوریالیزم د مکتبونو ترمنځ د اندونو او عقایدو ورته والی، توپیرونه او اړیکې څه ډول ارزوئ؟

**سحر:** ریالیزم د واقعي ژوند د انځورولو هڅه کوي؛ ناتورالیزم د انسان پر ژوند د وراثت، چاپېریال او طبیعي شرایطو اغېز ته لا ډېر اهمیت ورکوي او ځینې وخت انسان د خپلو شرایطو تر سخت اغېز لاندې ښیي.
سوریالیزم بیا د خوب، ناخودآګاه، آزاد تخیل او غیرمنطقي ترکیبونو له لارې د واقعیت له عادي منطق څخه اوړي. په دې مانا درې واړه د انسان او واقعیت په اړه خبرې کوي، خو د واقعیت د تعریف او بیان لارې یې سره توپیر لري. ریالیزم له مشاهده شوې نړۍ پیلېږي، ناتورالیزم پر ټاکونکو طبیعي او چاپېریالي عواملو ټینګار کوي، او سوریالیزم د ناخودآګاه او خوب نړۍ ته لاره پرانیزي.

**مسعود:** د پښتو ژبې د ادبي نښیرونو(اثارو) او ځانګړي ډولونو (ژانرونو) په اړه د ریالیسم د ښوونځی تګلورۍ، سبک، آرونه او اصول څنګه ارزوي؟

**سحر:** پښتو ادب له خپل ولسي، تاریخي او ټولنیز ژوند سره له پخوا څخه ژوره اړیکه لري. په شعر، لنډه کیسه، داستان، رومان، ډرامه او نورو ادبي ژانرونو کې د واقعي ژوند، ټولنیزو ستونزو، فقر، کډوالۍ، جګړې، مینې، کورنۍ او انساني اړیکو موضوعات په پراخه کچه لیدل کېږي.
خو ریالیزم یوازې د دې معنا نه لري چې په اثر کې واقعي پېښه ذکر شوې وي. ریالیستي اثر باید د ژوند واقعیت په هنري جوړښت، شخصیت، ژبه، چاپېریال او علتونو کې هم راوسپړي. په پښتو ادب کې د ریالیزم د مطالعې لپاره باید د هر اثر ځانګړی تاریخي او فرهنګي چاپېریال هم په پام کې ونیول شي.

**مسعود:** په پښتو ادبیاتو کې د ریالیسم لارویانو تر ټولو نامتو لیکوال څوک دي؟ ایا دوی د ریالیسم له ښوونځي او تګلوري او سبک څخه اغیزمن دي که نه؟ مهرباني وکړئ د دې لیکوالو او د نوماندو نښیرونو(اثارو) نومونه واخلئ.

**سحر:** محترم مسعودصاحب لکه څنګه مو چې دې برخه دمخه هم خبرې وکړې زموږ په پښتو معاصر ادب کې ګڼ لیکوال داسې آثار لري چې د ټولنیز او انتقادي ریالیزم له ځانګړنو سره نږدې دي. ګل پاچا الفت، صدیق پسرلی، عبدالرؤف بېنوا، اکبر اکبر، اجمل ختټک، درویش درانی او د داستان په برخه کې ګڼ نور لیکوال د ټولنیز ژوند، انسان او زماني د مسئلو په بیان کې د پام وړ ونډه لري.
خو د هر یوه په اړه باید جلا متني مطالعه وشي. یو لیکوال ممکن په یوه اثر کې ریالیستي وي او په بل کې رومانتیک، سمبولیک یا له نورو تمایلاتو سره ګډ سبک ولري. له همدې امله ادبي طبقه‌بندي باید د متن پر بنسټ وي، نه یوازې د لیکوال

د نوم پر بنسټ.

**مسعود:** ستاسو په اند په پښتو ادبیاتو کې د ریالیسم او په ځانګړي توګه د جادویي ریالیسم په برخه کې تر ټولو نامتو لیکوال څوک دي؟ ایا دوی د ریالیسم او جادویي ریالیسم له ښونځي او تګلوري او سبک څخه اغیزمن دي که نه؟ مهرباني وکړئ د دې لیکوالو او د نوماندو نښیرونو(اثارو) نومونه واخلئ.

**سحر:** په پښتو ادبیاتو کې ریالیزم اوږده سابقه لري او ګڼو لیکوالو د ټولنیز ژوند، بېوزلۍ، محرومیتونو، نابرابرۍ او د انسانانو د واقعي تجربو انځورولو ته پام کړی دی. د دې بېلګې په توګه د نورمحمد تره‌کي نوم په ځانګړي ډول د یادونې وړ دی، چې د بزګرانو او محرومو خلکو ژوند یې په خپلو کیسو او ناولونو کې انځور کړی دی. استاد ګل پاچا الفت هم په خپلو نثري او شعري اثارو کې ټولنیزې ناخوالې، دودونه او د اصلاح غوښتنې فکر منعکس کړی دی.
همدارنګه، د استاد عبدالروؤف بېنوا، استاد عبدالحي حبیبي، استاد صدیق‌الله رښتین، قیام‌الدین خادم، علامه عبدالشکور رشاد ، زیتون بانو، اجمل خټک او عبدالاکبر اکبر د اثارو ټولنیز او په واقعیت ولاړ اړخونه د څېړنې وړ دي. همداسې په وروستیو کې د نورو ګڼو لیکوالو نومونه یادولی شو زما په اند، د پښتو ریالیزم د لیکوالو د نوملړ پر ځای باید د هغوی د اثارو موضوعات، هنري ځانګړنې او ټولنیز لیدلوری وڅېړل شي، ځکه ریالیزم یوازې د ټولنیزو ستونزو یادونه نه، بلکې د ژوند د واقعیتونو هنري او ژور انځور دی. پښتو ادب کې د ریالیزم د بېلابېلو بڼو نښې په داستاني ادب، لنډه کیسه، رومان، ډرامه او ټولنیز نثر کې لیدل کېږي.
د جادویي ریالیزم په برخه کې باید ووایم چې په پښتو ادبیاتو کې جادویي ریالیزم لا د یوه پراخ او منظم ادبي مکتب په توګه نه دی تثبیت شوی، خو په معاصر

داستاني ادب کې يې ځينې بېلگې موندل کېږي. د اروابښاد نصير احمد احمدي په(جوجو) ناول او د ډاکټر محب زغم، اصف عمر او وفاسمندر په ځينو ناولونو او ځينو نورو ليکوالو په کيسو او ناولونو کې يې ځرک ليدلی شو. خو دا د څېړنې وړ دي چې څومره اړخ ورسره لگوي.

د پښتو د معاصر داستان په ځينو اثارو کې د ولسي باورونو، اسطورو، تاريخي حافظې او واقعي ژوند گډ حضور د جادويي رياليزم له ځينو ځانگړنو سره نږدېوالی لري. خو د يوه ليکوال د دې مکتب لاروی بلل بايد د هغه د ټول ادبي سبک او مشخصو اثارو له تحليله وروسته وشي، نه يوازې د يوه يا دوو داستانونو پر بنسټ.

**مسعود:** د افغانستان د معمارۍ، ننداريې"تياتر"، ډرامې، موسيقۍ، انځورگرۍ او مجسمه جوړونې په هنرونو کې د رياليسم تگلارې، سبک او هنر، اغېز څنگه ارزوئ؟ او دا راته ووياست چې په دې برخو کې کومو نامتو او پېژندل شوو ليکوالو او هنرمندانو له خپلو ادبي او هنري انځورونو له لارې اغېزمن رول لوبولای دی؟

**سحر:** په افغانستان کې د رياليزم اغېز يوازې په ادبياتو پورې محدود نه دی. په تياتر او ډرامه کې د ټولنيز ژوند، کورنۍ، جگړې، فقر، ښځې، ځوانانو او ټولنيزو ستونزو انځورول د رياليستي هنر له مهمو تمايلاتو څخه دي.

په نقاشۍ کې د انسان، بازار، کلي، ښار، بزگر، کارگر او ورځني ژوند تصويرول د واقعيت‌پالنې بېلگې دي. په موسيقۍ کې هم د خلکو د ژوند، مينې، بېلتون، مهاجرت او ټولنيزو تجربو انعکاس ليدل کېږي. معماري بيا د رياليزم په اصطلاح کې له ادبياتو سره عيناً يو شان نه ده؛ خو د ودانيو د واقعي اړتياوو، کارونې، چاپېريال او ټولنيز ژوند په پام کې نيول د معاصرې واقعيت‌محورې هنري تجربې برخه جوړوي.

زما په اند، افغانستان داسې پراخ تاريخي او ټولنيز ژوند لري چې د رياليستي هنر لپاره يې موضوعات بې‌شمېره دي. د جګړو، کډوالۍ، کليوالي او ښاري ژوند، دودونو، فقر، مينې او د انسان د مقاومت تجربې ټول د هنر لپاره غني مواد دي.
خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې هنرمند واقعيت يوازې ثبت نه کړي؛ بلکې هغه په هنري ژبه معنا کړي.

**مسعود:** که د دې مرکې په پای کې د رياليزم او ادب په اړه يوه عمومي خبره وکړئ، څه به وواياست؟

**سحر:** د مخه مو په دې برخه کې څه نا څه خورې ورې خبرې وکړې زما په اند ادب هغه وخت خپل ريښتينی ارزښت پيدا کوي چې له انسان او ژوند سره اړيکه ولري. رياليزم موږ ته دا را زده کوي چې د ژوند عادي صحنې، د عادي انسان دردونه او د ټولنې پټې ستونزې هم د ستر هنر سرچينې کېدای شي.
خو رياليزم د واقعيت ساده نقل نه دی. ليکوال بايد واقعيت ووينې، تحليل يې کړي، د انسان له احساس او فکر سره يې وتړي او بيا يې په داسې هنري ژبه وړاندې کړي چې لوستونکی هم ژوند ووينې او هم د هغه تر شا معنا احساس کړي. په همدې ځای کې ادب له عادي روايت څخه هنر ته اوړي.
د رياليزم تر ټولو لوی درس دا دی چې انسان بايد د خپل وخت په رڼا کې وليدل شي، خو د هغه انساني ارزښت بايد د زمانې له بدلونونو پورته وساتل شي. که ادب دا کار وکړای شي، نو د يوه عصر له حدودو اوړي او د راتلونکو نسلونو لپاره هم ژوندی پاتې کېږي.

***

گران او منلی دوست سحر صاحب!

ستاسو نه نړۍ مننه، چې زما پوښتنو ته مو په خپل علمي، ادبي، مسلکي او څېړنيز توان سره د مستندو موخذونو، علمي معيارونو او منطقي لاسوندونو پر بنسټ ګټور، ارزښتمن، پوره او بشپړ ځوابونه راکړل. ستاسو له څېړنې څخه څرګندېږي چې په دې برخه کې مو د پام وړ او اغېزناکو خبرو ته نغوته کړې ده. ستاسو د علمي او ادبي ژوند ډېوې او څراغونه تل توده، روښانه او ځلانده، قلم مو ځواکمن، اند او فکر مو تل تاند غواړم. هیلمن یم چې دا مرکه زموږ معاصرو او راتلونکو پښتونو(نسلونو) ته د یو ګټور، علمي، ادبي او هنري لارښود نښير(اثر) په توګه تلپاتي وي.

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود

***

ډیره مننه قدرمن انجنیر صاحب، ژوندی اوسې که دا مرکه د محترمو لوستونکو د پام وړ وګرځي لامل به يې ستاسو ژورې، سنجېدلې، دقيقې او هراړخيزې پوښتنې وي.

ستاسې هڅې د ډېر قدر وړ دي، زه خوشحاله یم چې ستاسې غوندې د خپلې ژبې او ادب یو نه ستړی کیدونکی او غمخور خدمتګار لرو، چې د خپلو مرکو له لارې نوې او په زړه پورې ادبي مسایل را سپړي او پخپل زیار يې تر ګرانو وطنوالو پورې رسوي.

ستاسې مخکینۍ مرکې او کتابونه چې ما لوستي دي واقعآ نه هيريدونکی خدمت دی چې تاسې خپل وطن ته کړی دی. هیله من یم چې زموږ دا ګډه هڅه او ادبي

مرکه د ګرانو لوستونکو د توجه وړ وګرځي او زموږ د معاصر ادبي او فرهنګي بهير په بدايينه کې ګټوره اغېزه ولرلی شي.

ګران افغانستان ته د خدمت په لاره کې ستاسې د لا برياوو هيله کوم.

علم ګل سحر.

***

په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود